Oct nu 63

کابل

(۵۲۹)

پرله پسی کنه

(۸)

علمی اجتماعی او ادبی

لړم (۱۳٤۲) لمړنی کال د (۱۹٦۳) عیسوی کال اکتوبر او نومبر

شمیر	مضمون	لیکوال	مخ
۱	دافغانستان اوشوروی اتحاد	پوهاند رشتین	۱
۲	دسیف الملوك کیسه	لودین	۷
۳	دپښتو شعری او ادبی قاموس	واسعی	۱۵
٤	یوسف زلیخا	ننگرهاری	۳۱
۵	وحدة الوجود	دسیفی ترجمه	۵۰

امتیاز: دپښتو ټولنی

مشر: پوهاند رشتین

مسئول مدیر: محمد صدیق روهی

دافغانستان اوشوروی اتحاد دوستی

داکنفرانس دنومبر په۷نېټه‌دشوروی
اتحا ددسوسیالستی‌انقلاب‌دیادونی
په غونډه کښې په کابل ننداره کښې
ویل شوی دی .

دا خبره چه افغانستان او شوروی اتحاد تر هرچا د مخه د یو بل خپلواکی او آزاد حکومتونه په رسمیت پیژندلی دی اوس ددواړو هیوادو د تاریخ یو مهم توکی او د افغانستان او شوروی اتحاد د دوستۍ یوه څرګنده نښانه ګرځېدلې ده .

پنځه څلویښت کاله پخوا دافغان ملت دخارجی استعمار په مقابل کښې توري ته لاس واچاوه اوخپله خوږه آزادۍ یې په‌پوره ډول لاس تـه راوسـتله .دغه شان دشوروی اتحاد تاریخی اولس‌هم دهمد غـه شان استعمارمخې تـه توره په‌لاس ودر ېداو داکـتوبردلوی انقلاب په برکت‌یې‌دیونوی خپلواکی‌تظام‌اساس کښېښود.

له‌همدغه وخته دافغانستا ن اوشوروی‌اتحاد دښې دوستۍ تاریخ شروع کېږی .

اکه چه ښکاره ده دغو دواړو اولسونو اوحکومتونو پـه دې نیمه‌پـیړۍ کښې له‌یوبل سره ددوستۍ ډېرښه ګاونډګړی دی اوپه دې دومره موده کښې ددواړو ترمنځ کومه ناوړه پېښه نه ده پېښه شوې .

داپه خپله دښې دوستۍ اوښه گاونډ یولوی نښان اوپوخ یادگاردی .

که څه‌هم دافغانستان اوشوروی اتحـاد په منځ کـښې دسر حـدی پولې یوه او ږده لیکه غزېدلې ده مگر په‌دی دومره اوږده موده کښې دا اوږده لیکه ډېره آرامه پاتې شوې ده اوله هیڅ توفان اوخپگان سره نه‌ده مخامخ شوې.

د افغانستان اوشوروی‌اتحاد ددوسـتۍ هـینداره دآمـو دڅپاند واو بهـاندو اوبو په‌شان پاکه او روښانه ده چه‌دزمانې دوړې‌اوگردونه پرې هیڅ‌اثرنه‌شی‌اچولای دملتونو او اولسونو ترمنځ دوستی دژوندانه یولوی نعمت اودانسانیت یوغوره صفت دی .

څومره چه دغه دوستی ټینگه‌اوکلکه وی ،هغومره‌یې گټې‌اوفایدې هم‌زیاتې وی. موږ پښتانه مینې او محبت ته په درانه نظرگورو زمونږ مینه له (مـن)څخه راوځی چه‌په زړه پښتو کښې (زړه)ته وایی ـ لکه څنگه چه‌مونږ درښتیانی مینې په‌قیمت ښه پوهیږو ،دغسې دحقیقی دوستۍ اهمیت هم‌راته پوره څرگند دی .

زمونږ په پښتنی قانون کښې (پت ، ښېگړه ، وفا)ډېر اوچت مقام لری .

دگاونډی سره ښه گوزاره ،ددوست اوملگری سره چلند زمونږ دتهذیب او ملی خویونو پاخه څلی دی .

اودغه لوړ صفتونه دانسانیت په‌صفاتو کښې هم ډېر ستایلی اومنلی دی .

مونږ په‌دې ډېر خوشاله یوچه دافغانستان او شوروی اتحاد خلك او مشران ددوستۍ په‌قیمت ښه‌پوه شوی دی او دیوبل له‌دوستۍ نه‌پوره‌گټې اوفایدی‌اخلی . داخوکاله‌کیږی چه شوروی اتحاد دافغانستان‌په تخنیکی،اقتصادی اوعلمی پرمختگ کښې پوره برخه اخلی او ډېر شوروی‌کاریگران دسالنگ ،نغلواو درونتې په‌غرونو کښې دژوند رڼا اوبرېښنا پیداکوی .دغه شان ډېر افغانی شاگردان اوس دشوروی‌اتحاد په‌بېلوبېلو برخوکښې‌دعلم ، تخنیك ، په‌زده‌کړه بوخت دی‌اودژوندانه پخې لارې چارې زده کوی .ددغسی کومکونو اومرستو لوی هدف اوعالی مرام باید یوازې دانسانیت خدمت اوددوستۍ ټینگار وی ،اودا هغه لوی اوجگ پړاودی ، چه انسانیت یې دوررسیدلو په هڅه کښې مخ په‌وړاندې درومی .

که څه‌هم دافغانستان اوشوروی اتحاد ددوستۍ ،ښومناسباتو ،تگ‌اوراتگ سلسله له څلوېښتو کالو څخه شروع شوې‌ده ،خوکال په‌کال پکښې نور نزدیوالی او خوږوالی هم پیداکیږی او دمینې او دوستۍ تادوونه‌یې لامزبوتیږی . ددواړوملتو د دوستۍ د ټینگار لوی نښان د دوستۍ د ټولنو جوړېدل دی . دا څلور کاله‌کیږی چه دافغانستان اوشوروی‌اتحاد ددوستۍ ټولنه په‌مسکوکښې جوړه شوې ده .

دغه شان په‌کابل کښې‌هم ددوستۍ دغه‌راز ټولنه منځ ته‌راوتلې ده چه ورځ په ورځ ددغو دواړو ټولنو د تگ راتگ او نزدېوالی مزی ټینگیږی . په څو

تېرو کلو کښې د دواړو ټولنو غړی د یو بل مملکت ته تللی او راغلی دی او په دی ډول د دواړو ټولنو د دوستۍ مزی لا کلك شوی دی .

د افغانستان او شوروی اتحاد د مشرانو تګ هم په دې برخه کښې یوښکاره اثر ښندلی دی او د دوستۍ د ټینګتیا په کالبوت کښې یې یو نوی روح پوکلی دی .

په تېره میاشت کښې کابل تـه د شوروی اتحاد د رئیسه هیئت د صدر ښاغلی برژنیف راتګ د دواړو ملتو تاریخی دوستۍ ته نوی قوت وبابښه او د افغانستان دودانۍ اوعلمی لوړتیا په‌تاریخ کښې دده نـوم هم دپـولی تکنـیك دنـوی ودانۍ په تادو کښې په ځلاندو تورو ولیکل شو .

د افغانستان او شوروی اتحاد د دوستۍ پیغامونه څنګه چه د مشرانو په‌خولو د یوبل هیوادوته لیږل کیږی ؛ دغسی د پوهانو ، عالمانو ، او ادیبانو په واسطه همدغه پیغامونه همېشه یوبل ته استول کیږی . مونږ ته په ښه شان معلومه ده چه په دې وروستو کلو کښې د شوروی اتحاد پوهانو او لیکوالو د افغانستان د تاریخ ، اقتصاد ،ادبیاتو او ژبې په‌باره کښې ښـې پلټنې کـړی اوزیـات سـودمن کتابونه یې خپاره کـړی دی .

په تېره د پښتو د زده‌کړې او ادبیاتو سره د دوی زیاته علاقه د دواړو ټولنو دکلـکې دوستۍ یوڅرګند مثال اوښکاره نښان دی .

په مسکو کښې د پښتو ژبې لوی استاد « اسلانوف » خپل زیات وخت دپښتو گرامر ،او پښتو قاموس په‌لیکلو تېرکړی‌دی او اوس هم‌ډېرې نجونې‌او ځلمیان د پښتو د درسی کتابونو په لیکلو او ویلو بوخت دی .

له ۱۹۳۹ ع کال څخه راوروسته‌د مسکو دختیځ پېژندنی‌په عالی ښوونځی کښې‌دپښتو ژبې تدریس په مرتب ډول شروع‌شوی‌دی ، اوس په‌تاشکند او لیننگراد کښې هم دغه سلسله روانه ده .

په شوروی‌اتحاد کښې اوس هم ډېرپوهان او ځلمی ادیبان دافغانستان د ادبیاتو په څېړنه بوخت دی او ډېر پښتو اشعار ، متلونه اوملی کیسې‌یې په روسی ژبه اړولی دی چه مشهور کسان‌یې دادی : ښاغلی دوریانکوف ، ښاغلی گیرس ، ښاغلی لبیدوف ، پېغله لودمیلا ، مېرمن کالیننه اونور .

افغانی لیکوالو هم دروسی دوستانو دغه دمینې غږې خوابه‌نه‌دی پرې‌ایښی او دشوروی اتحاد د نومیالو لیکوالو پوشکین ، لېرمنتوف ، تولستوی ، چیخوف او ماکسیم گورکی ،آثار یې په‌پښتو ژبه ترجمه‌کړی اودهیواد په‌جریدو کښې خپاره‌شوی دی .

ددوو اولسونو ددوستۍ دټینگېدو دپاره دیوبل له ژبې‌اوادبیاتو څخه ځان خبرول یوه ډېره سمه او روغه لار ده .

دافغانستان او شوروی‌اتحاد ددوستۍ ټولنې اوس په دغه سپېڅلی لاره روانې دی اویو بل ته‌یې ددوستۍ ټینګ لاسونه ورکړی دی .

زه دافغانستان اوشوروی‌اتحاد ددوستۍ دټولنې دیوغړی په حیث ددغسې دوستۍ ټینګتیا غواړم او د دوست مملکت شوروی اتحاد لویې ټولنې ته د اکتوبر دلوی انقلاب دشپږ څلوېښتم جشن مبارکی وایم اوددواړو هیوادو دلوړتیا هوسایۍ او آرامۍ د پاره خپله هیله ښکاره کوم ! !

دقلمی نسخو ښودنه　　دولت محمد « لودین»

(دسیف‌الملوك کیسه)

په دې وختوکښې دسیف‌الملوك شهزاده دخوږې اوله درده ډکې مینې په باب یوقلمی کتاب پښتو ټولنې دخپلې کتاب خانې دپاره اخیستی دی نو غواړم چه ګرانو لوستونکوته یې معرفی کړم . دملوك شهزاده دغه دمینې داستان په منځنۍ قطع په سلو مخو کښې په نستعلیق خط لیکل شوی دی .

دغه کتاب په ساده او روان نظم دی پرته له لومړی او وروستی مخه ، بل هرمخ‌یې شپاړس بیته دی. لومړی مخ‌یې یوولس او وروستی مخ‌یې درې بیته دی .

دملوك کتات ولی محمد پښتو کړی دی ، داسې معلومیږی چه له پارسی څخه یې په پښتو اړولی دی ، ځکه په دې کتاب کښې څو مبحثونه په پارسی معرفی شوی دی ـ له‌دې څخه څرګندیږی چه له پارسی نه په پښتو نظم اړول شوی دی .

په خپله ولی محمد هم ښکاره ویلی دی :

داقصه وه په پارسی ولی محمد

راشه‌جوړې‌یې کړه‌په‌عشق‌سره‌ابیات

وایی چه دملوك کتاب دسلطان محمود غزنوی په عصر کښې زیات شهرت وموند ددغه عصر نه مخکښې دغه کتاب په یوکورکښې دتبرك په ډول پروت ؤ ، څه وخت چه سلطان محمود غزنوی ته دیوې ګرانې تحفې په توګه وړاندې شو، په اوریدویې ډیر خوشال شو ـ په مقابل کښې یې ورورونکی ښه خوشال کړ .

ددغه کتاب دپیداکېدو په باره کښې دکتاب په مقدمه کښې مفصل معلومات لیکل شوی چه مضمون یې په دې شان دی :

سلطان محمود غزنوی ته چایوکیسه حاضره کړه دکیسې خاوند چه ورته دکیسې په ویلوپیل وکړ ، ډیره یې خوښه شوه ، هغه نفریې ښه ونمائخه اوزردینارې یې ورته ورکړل .

همدارنګه عنصری حکیم هم یوه کیسه جوړه کړه ، دغه کیسه هم دپاچا خوښه شوه ډیر ورباندې مهربان شو اوښه انعام یې ورکړ .

حسن ممندی چه دهغه یو وزیر ؤ ، په دی کیسه یې اعتراض وکړ اوغلته یې وګڼله ویل: مایوه داسې کیسه اوریدلې ده چه په نړۍ کښې ساری نه لری،

پاچا چه په دغه وینا خبرشو ، ویل یې ، که داکیسه دې راته راوړه په بدل کښې به یې یوښار دولایته سره درکړم اوکه رادې نه وړه وزیری به درڅخه واخلم اوله ملکه به دې ورك کړم .

وزیر په ډیر احترام او تعظیم سلام وکړ اویوکال وخت یې وغوښته . بیایې

پنځه سړی په پنځو خوا، وویعنې عراق ، اسپهان ، تبرستان ، ولایت اوهندوستان ته په کیسې موندلوپسې ولیږل ـ هریوه ته یې ډیر زر وزکړه اولاړښودنه یې وکړه یوه داسې کیسه پیداکړئ چه تراوسه چانه‌وی او رېدلې .

له دغو پنځو تنو څخه یو بریالی شو چه په(نهروان) کښې دیوې نادرې کیسې پټه‌ولګوی . کله چه‌دکیسې‌دزلودونکی ته‌ورغی ـ هغه‌ورته له ورکولوڅخه‌انکاروکړ .

ویل یې : پلارمې راته وصیت کړی دی چه دغه کیسه به هیچاته نه ورکوې څکه هیڅوك ددغې کیسې په ارزښت نه پوهیږی !

استازی وویل : نور پوه نه شوم سره له سخت انکاره خوچه کله مې زردینارو ورپه ګوتوکړه ، کیسه یې راکړه ، خودا وصیت یې راته وکړ چه پنځو نفروته یعنې بوله ، هلك ، مریې ، نرښځی او اورتې ته یې مه لوله ، څکه دغه‌پنځه‌واړه طایفې بې درده اوناپوهان دی دوی دکیسې په ارزښت نه پوهیږی اوکیسه بې عزته کیږی .

استازی ویل : کله چه دغه کیسه ماغزنې ته راورسوله ، خواجه حسن یې بندی کړی ؤ ، ماډیر ژر دغه کیسه وروړاندې کړه چه پاچایې په لوستو ډیر خوشال شو ـ دپاچا یو سلودزی دېرش شاعران وو ، ټول یې حاضر کړه ـ ټولو شاعرانو دغه کیسه خوښه کړه او په دې قانع شول چه له‌دې زیاته خوږه کیسه

تړاوسه مونږ نه ده اورېدلې - پاچا ، خواجه حسن وزیر له بنده وکیښس ښار او خلعت یې په انعام کښې ورکړل .

خواجه حسن دکیسې راوړونکی ته پنځه زره دیناره انعام ورکړ .

بیا به دغه کیسه پاچا ته همیشه لوستل کېده او په اورېدو به یې دزړه تسل کیده .

په لومړي واردغه دعشق اومینې خوږه کیسه په پورته ډول په افغانستان کښې دغزنی په ښار کښې سلطان محمود غزنوی ته لوستل شوی ده .

ددغه کتاب دلیکلو نېټه معلومه نه ده .

کتاب په املایې برخه کښې داوسنۍ املاسره ډیرتوپیرلری - دپښتو داتو خالصو تورو څخه دغه څلورتوری (څ ، ړ ، ښ ، ږ) په خپل شکل لیکل شوی او نور څلور توری په اوسنی شکل نه دی لیکل شوی .

د(ټ) په ځای (تړ) -او(ڼ) دنړ په شکل

(ځ) (د (څ) او د (ډ) په ځای (ړ) لیکلې شوې ده .

همدارنګه (ګ) هم په اوسنی شکل نه دی لیکل شوی ، بل کوم شکل یې هم ورته غوره کړی نه دی، بلکه (ك) یې (ګ) دافادکولوله پاره هم راوړی دی.

دملوك په کتاب کښې دکلمو لیکنه هم داوسنی لیك دودسره زیات توپیرلری .

که څه هم ټول کتاب داوسنی لیك دودسره سم نه دی، خوکه لږغور پکښې وشی لوستل یې دومره ګران کار نه دی- ډیر لږځایونه پکښې لیدل کیږی چه لوستل

یې لږ غوندې ګران دی او که واوستل شی پوره اوښه معنی ځنې نه اخیستل کیږی

نور ټول ځایونه یې لوستل کیږی او پوره معنی ترې معلومیږی.

دملوك په کتاب کښې دپښتو ځینې لغات چه اوس له استعماله لویدلې دی

شته لکه (ګایل ، ځبله) او ادسې نور خودغه ډول لغات پکښې ډېرلږ له ستر ګو کیږی .

ملوك په خپلې معشوقې پسې خپل خوږ او دځوانۍ موسم په پردیسی اوربړونو

تیر کړ. چه تش دعکس په ایدویې زړه ورباندې بایللی ؤ.

دملوك دغه خوږه اوله هرڅه ورتېره معشوقه (بدری جماله) ؤ.

دا سې معلومیږی چه(بدری جمال) دهندیادهنددګاونډیو هېوادو وه.

ملوك دمصریو نازولی شهزاده ؤ ، چه د (عاصم) پاچا زوی ؤ .

دملوك موز (ملك جهان ارا) نومېده د (یمن)دپاچاګرانه اوښکلې لوزوه .
دملوك پلار بله ماینه هم دراوده خودهغې څخه یې نه زوی اونه لور لرله ، نوځکه

یې (جهان ارا)یعنې دملوك موز وګړه .

دملوك عمر او زمانه له کتاب څخه په څرګند ډول نه معلومیږی خو داسې

ښکاری چه داسلام دمقدس دین له خپرېدو وروسته تېرشوی دی ، ځکه ددغه کتاب

په یوځای کښې کښېل شوی دی :

دا وخت چه ملوك په(بدری جمالې)پسې روان و، په لاره کښې زنګیانو سره

مخامخ شو زنګیانوملوك او دملوك یاران خپل مشر ته لاس تړلی حاضر کړل ، شهزاده

چه دزنکیانو دمشر څېره وکتله له هیبت او ډېرې وېرې یې دغه مبارك ایت په‌زړه کښې واوست سبوح قدوس ربنا ورب‌الملایکه والروح !

له دې معلومیږی چه‌دسیف‌الموك عصراوزمانه‌داسلام له خپرېدو را په دې‌خواده دملوك شهزاده دکیسې خوږلنې له لوستلو څخه ډېره ښه جوتیږی . ددغـه کتاب لوسته پرته له سملاسی لذت اوخونده ـ دژوندله‌پاره یوکټوردرس‌هم‌ګڼل کېدای‌شی دملوك دمینې خوږ داستان لوستونکی خپل هدف ته درسیدلو په لاره کښې دهرمشکل مقابلې ته چمتوکوی .

دملوك له داستان څخه معلومیږی چه بریالیتوب په امید ، پرله پسې فعالیت اوپه ځان باور لرلو کښې دی .

نمونه :

القصه شهبانو چه وخپل ورورته ورحضور شوه

دشهبال دوړاندې ورغـــله روی داره

تمام حال یې دملوك ورته بیان کړ
نادیده پرې ډېر مین شه بې روی باره

شهبال ووی هغه ځوان دې دلته راشی

چه بشره‌یې دلته وګورم اظهاره په څو واره

څوك یې واستول ملوك په هغه ځای نه و
بیایې نه موند بېرته راغی په تلواره

استازی ووی هغه ځوان هلته نه و

په طلب سترې ستومان شریو پهاره

غمزده شهربانو په بېرته راغله

دملوك فکر کښې وه درب دپاره

دغه ځوان که دلته مړ کا سپکاوی دی

زمونږ له کوره به ډېرشی بې اعتباره

دشهبال په لورمین واپسې راغی

دولس کاله یې محنت وکړ بې چاره

دشهبال لور ملوك را ووست په غولولو

کور بې مړ کړ دشهبال لورده مکاره

ملوک ووې دازما قصه اورده ده

په غربت راباندې تېر دواس کالونه

لاتر اوسه سر ګردان یم که باور کړې

په ماتېر دبحروبر دې عذابونه

اوس پوهېږم بخت رجوع راباندې وکړی

چه مې ولیدل خوشرنګ ستاسې مخونه

دانا وزیرې ووې اې پادشاه

په دې ځوان دشهزاده اټکل کوونه

په نظر خوش طبعه بلند همت دی
په رموزکښې حاضر کاندې ځوابونه

پادشاه ووې چه رښتیا ووایه ځوانه

په اصل ځوک یې راته وښیه نومونه

چه له حاله احوال دې خبر شم

له اندوه مې په زړه بارشوه دغم غرونه

بیا ملوک وې شازاده دمصر زوی یم

پسې شامې نام ونګ کړه هم ملکونه

دولس کاله په ماتېر شوه چه جدایم

پردیسی له مورو پلاره په ملکونه

په غربت په غریبی سوی سوختهیم

نور مې څه پوښتې له خوږه اندرونه

دپښتو دادبی او شعری قاموس د مضمون د ۲۷ مخ دغلطی سمون.

د دې مضمون په ۲۷ مخ کښې دی دریمه کرښه دلومړی کرښې پرځای اولومړی

کرښه دی ددریمې کرښې پرځای ولوستل شی

د پښتو ادبی او شعری قاموس

(۱۲)

که څه هم میرزابیدل عینی مضمون راوړی اودمعشوق په کتنه ئې ځان تپی نه بلکه وژلی دی، مگر هغه ابتکاری تعبیر چه دماشو خیل پر خوله ورغلی دی دهغه خولی ته نه دی ورغـــلی .

یعنی بیدل دخپل محبوب سترگوته په هغه نظر نه دی کتلی چه عبدالحمید ورته کتلی دی او دسترگو دکړمه څخه ئې دوینو پرځای دمیو درابهیداو دعوه نده کړی.

هو : ! « الم‌نشرح هغه الم‌نشرح ده خو خوله دملاعثمان غواړی »

لوټیری : دالغت په دغه شکل دپښتو ټولنې مطبوعه قاموس نه دی راوړی بلکه دلوټ میری په بڼه یې ضبطکړی او دغلو دمشر او سرغنه په معنی یې راوړی دی.

ظفراللغات کټ مټ ضبط کړی دی او د(خوشی، ایله، هغه څوك چه په غـلا او لـوټ وتاړاك پسې گرزی) معانی یې ورته لیکلی دی.

دسید راحت فرهنگ اودبلیو قاموس نه دی نیولی اونه‌یې دنورو بڼو او اشکالو یاد دونه‌کړی ده په‌شعری او ادبی نړۍ کښـې هم زماپه تتبع یوازی دماشـوخیـل مهمند دکلام په دې بیت‌کښې راغلی دی چه وایی:

پـه جلوه دصبرزهـد لوټيدی

په شيوه دنادر حسن شاپيری

پچه : د (کچه) پروزن پښتو قاموس دهغو نازکوترکو اوښاخلو ، نريو لښتو په معنی راوړی دی چه پر خونه‌يې اچوی اوسريې په پټوی مګر ظفراللغات يې هغه نری اونازکې خاشې او خسنې بولی چه مرغان په ونو کښې ځالې ځنې جوړوی مګر سيد راحت په دغه وزن نه دی ضبط کړی او څه‌يې نه دی پکښې‌ويلی خوبليوانګليس په لاندی کلماتو تفسير کړی دی :

Orbicular dung (as of camels, deer, etc.); a lot or share of land; a ripple or catspaw on the surface of water

دبليو دپورته تشريحاتو څخه څرګند يږی چه ده د(پچه) کلمه (دکچه) پروزن نه ده اخيستی بلکه دفارسی د (پشك ، پشکل) په معنی (پچه) يې ضبط کړی ده او سربيره پردغه مشهوره‌ترجمه‌يې دمځکې ديوې‌برخې اويوې اندازې‌په‌معنی‌هم‌راوړې‌ده اودهغه نری باد اونازك نسيم ترجمه يې هـم ورته ليکـې ده چـه دهغه په واسطه داوبو پرمخ نری نری ليکې او نازکی کرښې ترسيم سی .

مګر نوې او دشنلو وړ خبره داده چه ده (پچه) ديوې برخې يايوې اندازې مځکې په‌معنی ځنګه‌راوړې ده او داخبره‌دکمه ځايه او دچادخولې څخه‌دی‌رانقلوی ؟ رشتيا

داده چه دبلیوداترجمه هم غامضه اوهم ساده ده غموض یې دادی چه دمځکې په معنی یا که د ده تفسیر صریحاً راوړودیوه مقدار مځکې یایوې برخې مځکې په معنی تراوسه هیڅ قاموس نه ده راوړې اودایې نه دی ویلی چه (پچه) یعنی یوه برخه مځکه یایو مقدار مځکه ، دیوه پښتانه څخه هم موږ نه دی ارویدلی چه یوه مقدار یایوې برخی مځکې ته پچه‌وایی . دا خویې د غموض او باریکۍ خواوه اوس به یې دساده‌ګۍ خواته راسوهغه داده چه په بره پښتو نخواکښې چه دشیخ(ملی)ددفتر قوانین لااوس‌هم ځای ځای پکښې معمول اوتراجرا لاندې دی هرټبر او هرقوم بلکه هره کورنۍ خپله برخه مځکه لری اودابرخې او داقوامو یاکورنیو تاکلی مځکې لس لس کاله یاکم ؤ زیات وروسته لاس پرلاس کیږی او یووبل ته انتقال‌مومی او دپچې په ذریعه‌ملکیتونه ترله اوړی دیوی کورنۍ یایوه قوم په پچه ورغلی مځکه دبل قوم یابلې‌کورنۍ په پچه وخیژی او په‌دغه توګه چه‌کم توپیر دمځکې په‌مقدار یانوعیت‌کښې راغلی وی ترله وخیژی هر قوم هرټبر اوهره کورنۍ پخپل حق ورسیږی او ملکیتونه بیرته‌مساوات ومومی ددغه سیستم په مخصوصه اصطلاح دهر قوم او هر ټبریا هرې کورنۍ تاکلی مقدار مځکه پچه بلل کیږی او دوی پخپله محاوره کښې ویلای شی چه داد پلانی خیلو پچه ده او هغه دپلانی قوم پچه ده نوګواکې په دغه مخصوصه اوخاصه اصطلاح پچه دیوه معین او معلوم مقدار مځکې دپاره یومخصوص تعبیر اوخاص‌لغت دی .

په کندهار کښې هم دااصطلاح ژوندۍ ده مګر په بل رنګ اوبله بڼه هلته دپچې پر ځای (ټك) مستعمل دی اولکه هلته چه پچه دیو چا په نامه بلله کیږی دلته ټك یوچاته منسوبیږی مثلا وایی دادپلانی ټك دی یامثلاده خپل ټك خلاص کی یـازما ټك رامعلوم کړه یا ماته ټکان راواچوه خود ټك اصلی منشاء دبیګـاراوحشر څخه را شروغ کیږي یوه واله ، یوه پادشاهی لاریوسړك چه پخپله وطنی خلق‌دحکومت‌سره دمرستې په نیت جوړوی نو دهرسړی یاهرجمیعت دپاره دولی‌یاسړك یوه برخـه دګزونو په میچ اودولې دکیندلو یاکارولو په صورت کې دیامه په لاستی اندازه‌کوې هریوم والاته چه هرڅودیامه‌لاستی ورورسیده هغه اندازه د ده برخه ده او د ده ټك بلل کیږی اودې به یې ختې غورځوی او کاروی به‌یې داد (ټك) اصطلاح یوازی په بیګار او حشرکې نه ده رواج بلکه په ملکیت او څښتن توپ کښې هم مستعمل دې دلویو جاګیر دارانو او عمده ملاکانو دمځکو دجاګیرو څخه هم په ټك تعبیر کیږي اوددې پرځای چه ووایی دادپلانی مځکه ده یا پلانی ددې مځکی مالك دې هغه د ده‌ټك بلل کیږي وایی داد پلانی ټك دې دیوې محدودې مځکې انتهایی خط ته هم ټك وایی چه ترهغه وهغه بله خواته دبل چا مځکه پرته اوبل ملکیت شروع سوې وې .

ټـك دیوه مرض نوم‌هم دی چه غالباً پسه اومیږ ته ورپیښیږی دټك وهلی پسه

غـوښه تکه سره وی اوڅوك يې په‌شوق نه‌خوری دټك وهلی پسه دغوښی سوروالی ددې شاهد دی چه‌داناروغی‌په‌پسه کښې‌داسې‌ده‌لکه‌انسان‌ته‌دزړه ددريدلو ناروغی‌اوهم دغه سبب دی چه ددې حيوان دناڅاپه مرګ ناروغی ټك وهل بولی . بلکه يوانسان چه سمدستی ياوروسته ترلږ ناروغی په يوه يادوه ساعته کښې مړسی دهغه په‌باب کښې هم ويل کيږې « ټك يې وهل » دا جمله دانسان په مورد کښې هغه وخت راځی چـه سترګه يی‌اخستيی اونظرشوی‌وی نووايی پلانی سره ټك‌وهل يعنی داسې ژر اوناڅاپه مړسو لکه پسه‌چه‌ټك‌وهی اوژرپه‌ژرمړسی په‌دې‌مورد کښې يوه‌بله‌محاوره (ټك‌ؤستره‌کيدل) هم سته اوډير څله پښتنې ميرمنې له دغسې عاجل او فـورې مرګه‌څخه په (ټك‌وستره)کيدلو سره تعبير کوی وايی پلانی ټك وستره‌سو .

خودا جمله پښتنې‌مندی غالباً‌په ښرا کـښې مستعمله‌وی اووايی :هلکه ! زويه ! (ټـك‌وستره)سی . ټـك خوټك دی مګرستره دلته‌څنګه راغله‌اوڅه معنی‌ور کـوی ستره دلته کنايه دمړی دپريوللو اودغسل دورکولو څخه‌دی اوڅکه چه مړی دغسل پروخت په پرده اوستره کښې وی اوپرده دغسل له لوازمو څخه‌ده نولازم يادسوی اومرادځنې ملزوم يعنی غسل دی نو ټك ؤستره کيدل عبارت دناڅاپـی نا جـوړې اوسدستی مړه کيدل لو څخه دی اويوه مورچه چاته په‌ټك وستره کيدلو ښرا کوی مقصديې داوی چه در دومرګ دی سره يوځای او متصل وی يعنی يوه ګـړی دی

ناجوړوی اوبل ګړی دی مرګ وی .

ټک دبزګرانو په محاوره کښې هم خپل مخصوص ځای لری اودختګو ، هندوانو بادرنګو ، دفالیزو دزړودایښو ولوڅخه په ټکانو اچولو تعبیرکوی او یوبزګووایی : « ځم دفالیز ټکان ایږدم » د ده مقصد دټکانو څخه په مځکه کښې فاصله په فاصله ترخاورو لاندې هغه زړی یامندکې وی چه جوړنګ ځنې جوړیږې یا نهال ځنې راپورته کیږې په ټکانو دفالیزو دلوې والی اورقبې څخه هم تعبیر کیږې مثلا یو بزګرویلاې شی چه دده فالیز دوه زره ټکه او دهغه بل یوه دازرټکه دې . ټک درغولواورغید لو په مورد کښې هم راځی دیوې پیغلې دستنې دکار او دګلابتونو او زرې شیانو دجوړولو څخه په ټک تعبیر کیږې وایی : (دپلانی دستنې ټک ترپلانی زیات دې) یعنی دستنې په کار کښې ترهغې قابله ده خو په عمومی ډول ټک دفارسی د (بخیه ، کوك) په مقابل کښې راځی .

اوس به ولاړسو خپلې پخوانی خبرې ته او بیرته به د (پچه) په کلمه کښې دکچه پروزن وږغیږو او په شعرؤ ادب کې به یې وڅیړو چه دا لغت دکم شاعراوکم ادیب په کلام کې راغلی اوپه کمه معنی مستعمل سوې دې ؟ دا کلمه په همدغه بڼه (پ چ ه) دکچه پروزن ماته دلمړی پلادپاره عبدالحمید ماشوخیل په کلام کښې ځان راښیی او ددې پښتانه ادیب په کلام کی دوه ځایه په مخه راځی لکه

یوځاي چه وایی :

چه دا غل سی دچمن پچه پچه ډکه ځوله له وینووخاندي غنچه

په دي بیت کښې دقاموسونو یعنی پښتو قاموس او ظفراللغات له ویناسره‌سم د نازکو او نریو ښاخلو او لښتو په معنی‌ده او دبیت ترجمه هم‌سمه او خوږه ؤ خوندوره راځی یعنی هغه وخت چه پسرلی شی او دچمن ترکه اولښته لښته‌وداغل سی (له داغلو څخه مقصد سره کیدل دي) نو غنچه او دګلو غوټی له وینوډ که خوله و خاندي بل ځاي دمعشوق درقص او اتن منظره ستایی اووایی :

چه په څرخ کښې‌به اوده لکه غنچه لاړ لکه ګل هسې به خورپچه پچه لاړ

په بیت کښې دپچه پچه څخه مقصد خوراو پرانیتلی او پاڼه پاڼه کیدل دی دا څه عجبه او نوي خبره نه ده چه شاعر یوه کلمه دخپلی اصلی او موضوعی معنی څخه بله معنی کې په دې‌شرط چه‌دواړوترمیانځ یوتناسب موجودوی مستعمله کړی ځکه‌چه دلته بشپړه مناسبت (چه‌هغه درقص په‌وخت کښې دممدوح انتهایی غوړیدل اوپه تمامه معنی خوریدل) دی موجود دی نوده پچه دترکې اولښتې څخه رانقل کی اومجازاًیې دګل دپاڼو دپاره مستعمل کی .

د (پچه) دلغت بل شکل (پچه) په (پ ج ، ه) راغلی دی دلته صرف (چ)په (ج) اوښتی ده او وزن هغه (کچه)دی دالغت په دغه بڼه دپښتو ټولنې مطبوعه

قاموس اوظفراللغات دواړو دکلالانو دلوی‌دابښ دخښتو دپخولوپه‌کوره ترجمه‌کړی‌دی بلیو هم په‌دغو معنی وو ضبط کړی دی .

پچه په(ج) سره په‌شعر اوادب کې دعلیخان په‌دې بیت کې راغلی دې چه وایې :

هغه ګانې دتقدیر به پرې را خلاص شی

چه شکست یې پچه د تدبیر ګلې که

په‌بل ځای کې میان محمد جناب کاکا خیل هم دالغت په‌دې توګه راوړې :

یوه ګانې داجل ته نه ټینګیږې

که پچه کاندې پخه کلال دعمر

په‌دې بیت کښې پچه ددابښ اوکورې په معنی اوخار اوزښته واضح راغلی دې .

لهر : د (قهر) پروزن دالغت په دغه بنه یوه قاموس هم نه دی را وړی خو ظفراللغات د (ر) پرځای په (ړ) لهر راوړی دی او دپښتو قاموس هم کټ مټ ځنې وانقل کړی دی اوسید راحت زاخیل اوبلیو په یوه بنه هم نه‌دی ضبط کړې . ترجمه او مفهوم یې ظفراللغات ددوو غروترمیانځ لوی ګرنګ بولی خوپه مشهوره اومتعارفه معنی درود پاڼ یادغره یوجګ اورا جلا غوندې جدار ارهسك سربلل کیږې چه په یوه عبارت یې تاك هم بولی مثلا پښتانه پخپل ګره ضرب‌المثل کې یووبل ته چه ډیر یې سرګردانه اولالهانده کی‌وایې : (تاك له تاکه دې کړم) خود دلته به‌دظفراللغات

دځښتن مقصد له‌ګړنګ څخه هغه لاروې چه‌ددوو غرو ترمیانځ تللې‌و او په فارسی دره بلل کیږي خودخوشحال‌خان په‌یوه بیت کښې ګړنګ هم‌ددوو غرو تر میانځ دژورې او کم سورې‌لارې په معنی راغلی دی . دی وایې :

خدای دې پل دچا خطا نکړې ګړنګ دې

په ورو ورو باندې قدم ایږده خوشحاله

اوس به‌داخبره وګورو چه‌دالغت بی‌له‌شعر اوادب څخه په‌محاوره کی هم‌کم‌ځای راځی او که یه اوکه راغلی وی چیرې او په څه معنی راغلې دی ؟ زماپه تتبع دا کلمه په محاوره کې ماته یوځای په مخه راغلې ده چه هغه دیوه ټبر اوقبیلې په‌نامه‌کې‌راځې داټبر دکاکړوپه‌قوم کې‌دموسې‌خیلوپه‌پښه‌کې‌وروسته‌ترمندیزی دلهرزی‌سلسله‌راځی مثلا یوکاکړ چه‌دموسی خیلو دپښې څخه‌وی ویلاې سی چه :«دی‌کاکړدی» اوپه‌کاکړ کی موسی خیل او په موسی خیل کی مندی زی او په مندی زی لهرزی

اوس به‌راسو چه‌لهر په‌شعر اوادب کې چارا وړې دې دالغت ماشوخیل مهمند په‌خپل کلام کې راوړې دې او داسې وایې :

هسی راغله لکه سند په لهر لهر

استقبال لره‌یې خلق دټول ښهر

مګر دلته لهر دظفراللغات دترجمې څخه ډیر لیرې مستعمل سوې دې او دپاڼ

یاګړنګ معنی نه‌ورکوې بلکه دڅپی موج باډاسګی په‌معنی دبیت ترجمه سمه راځی یا که دمروجی محاورې سره سم چه په کندهار کې اوس هم ژوندۍ ده چه وایی واله یارود غاړې غاړې یعنی خورا ډك راغلی دی لهر په‌ژۍ اوڅنډه ترجمه کړوهم دبیت مفهوم خوند پیدا کوې یعنی دمعشوقې مخې ته‌دونه ډیرخلق راغلی وه اودډیروالی منظره داسې ایسیدله لکه رود چه‌غاړې غاړې راسی او دیوې ژۍ څخه تربلې ژې پورې ډك وې .

وټ : دالغت ظفراللغات ضبط کړې اودهغی مځکې په‌معنی یې راوړې چه فصل اوکښت تازه ځینې ریبل سوې وې بلیو دواټ‌په بڼه دلارې په‌معنی راوړی دی او دپښتو قاموس کټ مټ دظفراللغات څخه را نقل کړې دې او په لفظ ؤمعنی‌دواړوکې‌په هغه پسې تللی دې .

دالغت خو دواټ په شکل اولاریا بازار به معنی څه نوې والی و تازګی نـه لرې او هرڅوك یې پیژنی مګر دبحث وړ خوایې بی الفه دوټ بـڼه او دمځکې معنی ده چه ایا په دغه شکل او په دغه معنی په محاوره اووینـاکښې چیرې راغلی او پـه شعرو ادب کی چا راوړې دې . ؟

د کندهار په محاوره کې یو پښتو متل وایی : (ددوو غریبانو په و ډکې ښه نه سره

ایسی دلته‌د(وټ)پرځای (وڼ)راغلی مګرمفهوم‌د دواړو یوشی دې یعنی هغه مځکه‌چه فصل تازه ځنې ریبل سوی وی .

او س به دضرب المثل ترجمې او توضیح ته راسو وډیاوټ اغلبا هغی کرونـدې اوکرلی سوې مځکې ته وایی چه حاصل یې غلې اوداني وې‌لکه‌غنم ،اوربشی،جوارې، شالی ، باجرې ، ږدن ، اونور دغه قسم ارتزاقی دانې . دفالیز مځکې ته‌چه‌هندوانی یاختکی یابادرنګ‌یې لانبس شی‌وډنه ویل کیږې اوکه بوده دپیولو دپاره ورایله کی هلته داسې نه وایی چه وډته ئی بوده ورایله کړې دې بلکه وایئ پالیزته یئ‌بوده ورایله‌کړې‌دې، اوزیاتره اوقات دوډ دنوعیت دتعین دپاره دغنمو یااوربشویا جوارو یا ماشو یا شالیو نوم هم ورسره یادیږې یعنی دغنمو دوډ ، داوربشو دوډ ، یا دبل شی دوډ په نامه بلل کیږې .

خو په وډوکې دخان ځخه تربیګه اودبډای ځخه تر غریبه پوری دټولو ځاروی ځرکوی اوهرغوبه خپل غوایی‌ؤ غواوې اوشپانه خپلې غیلې دخپل کلی وډته راولی په دغـه وډکې غښتلی غوبانه اوشپنیان پرغریبوباندې تجاوزونه کوی اودوډښه ښه‌ځایونـه اوزرغونه نقاط یووبل ته‌نه سره ورپریږدی دادهغه اوهغه ددې غواوې غیلې ځنې ګوانبی اوخپلې داورولی نوئې دښمنی سره‌ولویږی اویوله بله ئې ښه نه‌سره‌ایسی نودمتل موردموجودسی چه (د دو وخوا رانوپه وډکې ښه‌نه سره ایسی)په متل کې

دوی دواړه مفته‌استفاده ځني کوی هم یودبل په‌ګټه اوفایده خفه کیږی چه دانوانتهایی (ځکه چه‌یوله بله ئې ښه‌نه سره راځی) په‌وړکی چه‌پردی ملکیت اودبل چادی او دتوجه وړنقطه اوکم شی چه‌مثل ترهغه پوری ویل شوی‌دی دادی چه دوه غریبان بدمرغی اوبدبختی ده او دیوه انسان ډیر کښته والی او خساست ښکاره کوی .

اوس به داخبره وکوچه(وټ) ځنګه (وړ) کیدای شی او(ټ)ځنګه په(ړ) اوړی دا اوښتل اوالیشیدل په ژبه کې موجود دی‌اومثالونه‌یې ډیرپیداکیږی مخصوصاً په صوتی اسماو وکې‌داتبدیل ډیر لیدل کیږی لکه ټنګ ټنګ یاډ نګ ډنګ د ډول په‌زغ کی‌درنګ درنګ اوترنګ ترنګ درباب‌اونورو تاری سرودونو په‌نغمه‌کې او ډوغ اوټوغ په‌ټوخلوکې . اودوتی ریښه اومأ خذچه پټ ګټه پسې وروسته دتأکیدیا مهمل غوندې راځی‌هم دغه وټ‌یا وړدی او رابطه ومابه الاشتراك ئیې دادی چه لکه ګټه چه فایدې په معنی‌ده وټه د پښتو ددې مثل‌په‌اساس چه (ګټندوی ښه‌دی که‌وټندوی) دسپما په‌معنی راځی دغه‌رنګه (پلانی څه‌ګټه‌وټه لری ؟)معنی‌داچه پلانی څه فایده داستحصال یادسمپا دخوا څخه لری که‌یه ؟ نو که یوځوك خپلو غواوو اوغیلوته‌شپه‌ؤ ورځ پرځای خوراك ورکی او۲٤ساعته‌یې اخور وروړك کی‌ددې سړی کور به چیری وی اودخپلو غواوو غیلو او مالداری څخه به‌څه خیر یوسی؟ مګرکه دی سپماوکی یعنی دورځې له‌خوا خپل بوده وپیائی اوپه وړواو دښتوکې خوله په‌ووهی‌او یوازې

دشپې دخوا اخورورډك کې طبعاً به دمالداری څخه فایده واخلی. نودغه دورځې دخوامالونه داخور اوموږی څخه لیری مړول او وډونوته شړل اوهلته یې پوول په ټوله معنی سپما اووتهده چه په دغه مناسبت اوما به الاشتراك پخپله هغه ځای چه مالونه پکښې څری اونوم یې وټیا وډدی مجازاً سپما وبلل شوه او دتانیث په حالت کې یعنی هغه وخت چه تر ګټه وروسته راشی وتـه شوه اودسپما په معنی یې رواج وموند .

وټ په شعر اوادب کې خوشحال خان پخپل کلام کښې راوړی اوداسې یې افاده کوی:

مرد دمیدان دی ښځـه دکټ ده

نـه داخبـره دعـشق د وټ ده

د عبدالحمید ماشوخیل په یوه بیت کې هم راغلی دی او وایی :

نیك نیتی شوه په سینه کې هسې مېخه

چه یې وټ دکینې ټول وکیښ له بېخه

لکه دپورته دووبیتو څخه چه معلومیږی دخوشحال خان په کلام کښې وټ دلارې په معنی او دماشوخیل په بیت کې دمخکې یافصل په معنی راغلی دی نوګواکې دلغت دواړه ترجمې لکه په وینا اومحاوره کې چه رواج دی په شعر او ادب کې هم ځای لری اودپښتو ژبې دغښتلو او پیاوړو ادباوو په کلام کې یې لیدلای شو .

یکس : د(جرس) پروزن پښتو قاموس دخراب اوبابیزاو دشپې څخه دپاته سوی

شی په‌معنی راوړی دی ظفراللغات دهرمایع او اوبلن شی دپای دخیری (درد) او دخورا لږاونه ځ ترجمه ورته لیکلی ده راحت زاخیل هم‌دبیخې لږ په‌معنی‌ضبط کړی دی مګر دبلیو ځخه یومخ پاته دی اوهیڅ نه‌دی پکښې ږغیدلی .

دالغت چه‌موږ ګورو یوازې دشعر او ادب په نړۍ کښې‌ژوند کوی اودمحاورې‌او لهجې ډګرته‌نه‌دی راکوز سوی خودا یقینی اودانکارونه ده چه‌دا لغت به‌یووخت هرومرو په محاوره کې ژوندې ؤ او په‌خبروکې به‌پورته‌ؤ کښته کیده ځکه چه‌شعراو ادب خودژبې او دلغاتو ذخیره اودمحاورې اولهجې پټه خزانه ده نوځنګه کیدای شی چه یو لغت دژبې په‌ذخیره کې محفوظ وی او محاوره دې علاقه نه‌ورسره ولری او په وینا ؤ لهجه‌کې دې څوك ورسره اشنانه وی .

په ادبی نړۍ کې دالغت خوشحال خان داسې افاده‌کړی دی .

نورو حریفانو واړه ډکې پیالی‌نوش کړی

ښه چه دخوشحال‌پیاله یې‌ډکه په بکس‌کړه

عبدالعظیم رانی‌زی هم پخپل کلام کښې راوړی دی او وایی :

ساقی زه دصافومیو لایق نه یم

هزار شکر که‌دی داد وکړو بکس

یالکه دده په دې بیت‌کښې چه وایی :

په جامو سپینوبـګړیو غلط مشه

په کنجکه نه بدلیږی یوبکس دوی

دلته دخوشحال‌خان په‌کلام کښې بکس دخیری په معنی راغلی‌دی اودرانی زی دکلام په‌اول بیت کې دخیری اوپه دوهم بیت کې دلږ اونه‌څه په‌معنی اخیستل سوی دی‌چه‌په‌دې‌اساس‌دلغت‌دواړو معناوو اسنادومونداوباید دډاډاواطمینان وړوبللی‌شی.

دغه دی وروسته تر (۱۲)مقالوچه‌دپروسږ کال دقوس دمیاشتی څخه بیادسږ کال دقوس ترمیاشتې پوری‌یې دوام وکی دپښتو دادبی اوشعری قاموس ترعنوان‌لاندې څیړنې‌ته خاتمه ورکوو اودانوعه څیړنې به‌نورزمونږبښاغلی اوستونکی په خپله دپښتو په‌ادبی اوشعری قاموس کی چه‌تالیف یې زماپرلاس دی په‌مرتب ډول مطالعه کړی اوضمناً دایادونه لازمه بولم چه لکه یوه پښتو مقوله چه دخوب دلیدلو په‌باب‌کی وایی : (خوب نه‌پرځه دی‌نه بی‌څه) دغسې زمونږ دغه اوږده «۱۲» میاشتنی‌مرکه‌به‌هم د پښتو ادب او پښتنو زلمیانو دپاره نه پرځه وی او نه به بې څه .

په‌آخرکې دهغوښاغلولوستونکو څخه بخښنه غواړوچه ددې مقالاتو لوست‌یې تعقیب کړی او داوږدووالی له جهته یئی‌یوقسم خواپوټکی اوناوړه ستومانی احساس کړی وی دوی باید موږ معذور وبولی او زموږ داعذرپه خواخوږ ی ومنی چه علمی څیړنې اوادبی اوږدی اوژوری کتنی داشیان لری که‌څه‌هم یوه‌ډېره خوږه اوخوندوره موضوع تربحث لاندی نیولی شوی وی . (پای)

م ننگرهاری

د عبدالقادر خان ختك

یوسف زلیخا

ښایي چه زمونږ ښاغلو لوستونکو ته له څیرمې دا معلومه‌وی چه دعبدالقادرخان ختك د آثارو په جمله کښې د یوسف زلیخا ترجمه هم شامله ده .

ددې غوره ادبی اثر یوه‌نیمه قلمی نسخه کیدای‌شی چه په کومه کتابخانه‌کښې پرته هم وی مگر په دې صحبت کښې چه د کوم اثر ذکر کیږی دا یوه چاپی نسخه‌ده چه زیات وکم او یا کاله دمخه چاپ شوې ده .

دکتاب دچاپ موضوع له څومختلفو اړخونو ملاحظونه دلچسپه اودتوجه وړده یوه داچه دانسخه په کابل کښې چاپ شوې ده بل دا چه دومره روښانه او صفا چاپ شوې ده چه اوس بې له آفسیټه (هغه هم چه ښه خواری پرې وشی) دغسې چاپ له سره نه شی کیدای .

دریمه خبره پکښې داده چه مصوره ده . څلورمه داچه اعلیحضرت ضیاءالملة والدین د هغې په طبع کولو کښې په خپله دلچسپی اخستی ده . پنځمه دا چه د کتاب د کتابت او اهتمام چاره یې داسې سړی په ذمه اخستې ده چه دهغه دفاضلې کورنۍ د موجوده ادبی سرگرمۍ د نوعیت له مخی داخبره په آسانه دچاړه ته

هېرونه پرېوځی چه داکتاب دې دهغه په خط او اهتمام چاپ شوی وی .

شپږمه او وروستی ملاحظه پکښې داده چه د هغه وخت پښتنو مشتران وو که کشران سره ددې چه دډیورنډ کرښه دهغوی په وخت کښې راکښلې شوې وه خو هغوی دخپل لوی وطن په لراوبرکښې څه فرق او بیلتون ته په زړه کښې ځای نه ورکاوه اوداکوړی دعبدالقادرخان ختک دیو اثر په مقابله کښې یې د ننګرهار یا کندهار د کوم عالم او فاضل اثر ته د ترجیح ورکولو خیال په زړه کښې نه تیریده .

دلته زما فکر ته یوه نکته راځی اوهغه دا چه ضیاءالملة والدین دخپل تره مرحوم امیر شیرعلی خان سره یوازې دسیاست او تسلط په میدان کښې مخی او حریف نه دی بلکه د سړیتوب په ټولو اړخونو کښې ورسره مقابله کوی او په دې اساس که هغه د شمس النهار جریده وباسی پښتونومونه اوبولی وضع کوی او دپښتنی ثقافت د بیا ژوندی کولو هڅه کوی نو دی هم پښتو آثار چاپوی افغانی نویسان په خپل در بار کښې ساتی او د سردار ګل محمدخان محمدزی غوندې یو پوه او فاضل شخص د پښتو ادب د دوې او ترقی په کارماموروی .

ضیاءالملة والدین یوازې پهدې هم کفایت نه کوی بلکه پهخپل کتاب تاج التواریخ کښې همیشه خپل پوځ او لښکر ته د امیرشیرعلیخان د ملګرو په خوله افغانی پوځ وایی دی ځای په ځای په خپل کتاب کښې اشاره کوی چه موږ پلانی ځای تهورسیدو

نو د شیرعلیخان محاذوبو کنید چه هغه دی افغانان راغله (یا) د افغانانو لښکر را ورسید .

اوس هم که څوك دکابل دزړو کتابخانو کونجونه او دکتابفروشیو دوکانونه ولټوی او یا د کابل د علمی کورنیو د متروکو پانوصندوقونه ولټوی هیڅ عجبه نه ده که د امیرعبدالرحمن‌خان په امر په دغه ښکلی طبع د نورو فاضلو او پښتنو محمدزو په‌خط او اهتمام ښه آثار وموندل‌شی .

داکتاب ماپخپله دکتابفروشی په یوزاړه دوکان کښې څوارلس پنځلس کاله پخوا موندلی دی لکه چه ومووېل داکتاب په کابل کښې چاپ شوی دی او دمعرفی په لومړی مخ‌یې داسې لیکل شوی دی :

بحکم د پادشاه د افغانستان ضیاءالملة والدین اعلیحضرت امیرعبدالرحمن‌خان پښتو یوسف‌وزلیخا

په خط او سعی دګل محمد مهتمم محمدزی په چاپ خانه که (کښې) د دارالسلطنة دکابل چهاپ شوسره دتصاویرو .

د کتاب په آخر کښې دا عبارت لیکلی شوی دی :

په حکمو فرمان د پادشاه د اسلام حضرت ضیاءالملةوالدین چه دی امیر کبیر د افغانستان امیر عبدالرحمن‌خان غازی و مجاهد بالله دی کتاب د یوسف‌وزلیخا

پـه‌ژبـه دپښتو سره دتصاویروچاپ شو ـ پسعی‌واهتمام وخط دخادم جان فشان

گل محمد مهتمم محمد زائی په . . . . . .

عبارت دوهمې صفحې ته اوړی او دا چونکه آخرینه صفحه ده نو دباطله اوردی کاغذ غبرگه پشتنی ورکړ شوې ده اوله دې کبله پاتې خوجملې چه اشکال یې‌ښکاری مگردلفظ تفریق یې نـه شی کیدای نـوځکه یې موږنـه شونقلولای . البته سنه یې واضحه لوستل کیدای شی چه (۱۳۱۵ هـ ق) ده .

وضع او قطع :

کتاب په (٤٦٠) مخونو کښې دی د طبعې شمیریې نه دی معلوم . کاغذ یې زیړ بادامی او نسبتاً کمزوری دی مگر په عمومی لحاظ محفوظ او نسبتاً پاك پـاتې شوی دی .

شعر چونکه په خفیف بحر کښې دی نوکتاب هم لکه دخفیف بحر دیو مضمون غوندې په اوږدو ډېر او په سورو لږوی .

هره صفحه یولس بیتونه لری او دهرمخ پـه آخر کښې لـکه د پخوانو قلمی کتابونو د راتلونکی مخ لومړی ټکی هم لیکل شوی دی .

ځای په ځـای پکښې دموضوع مطابـق درسم یـوه یـوه صفحه درج ده دتوجه‌وړ خپره یې داده چه یوخوا که رسمونه ډیرښه او ښکلی دی نو بل پلویې ستایل د

اکثرو پخوانو چاپ او ناچاپ رسمونو برخلاف په مغولی سبك او طریقه نه دی .

د کتاب آغاز :

عنایت ربه په ماکړه د امید غنچه مې واکړه

په خندا کښې باغ زماکړه معطر دماغ زما کړه

شناسومې په نعمت کړه ماگویا په خپل صفت کړه

انجام :

دا جهان دی ماتمی پکښې نشته بیغمی

هر سړی چه لږ ډیر پوه وی همیشه به په اندوه وی

ډیر مې وویل نور بس حرف دی ډیر که څوك وی کس

دکتاب تاریخ :

مترجم دانه ده ښودلې چه ده په دې ښه اومبارکه چاره کله لاس پورې کړی دی اوپه څومره وخت کښې دا کارتمام شوی دی . البته په ابتدا کښې دده یوه حواله دا ښیی چه څه وخت ده په دی ترجمه لاس پورې کاوه نو دپښتو پلار اود ده قبله گاه خوشال خټك وفات شوی ؤ .

دحمد نه پس په صلوة کښې وایی :

رب مغفور قبله گاهه کړه باندې فضل الهی کړه

ده دابیت دی ویـلی چه حضرت‌یې دی ستایـلی

« پـه هر شان محمد ستایه

خویو خدای ورته مه‌وایه »

البته دخپل مغفور و مرحوم پلار په‌شان چه اکثریې دانشادتاریخ لیکلی دی، ده هم پخپل کتاب کښې داختتام تاریخ په دې شان لیکلی دی :

سن دهـجر غین وقـاف ؤ اته کـم دپاسه کـاف ؤ (۱۱۱۲ ه ق)

چـه تمامه زلیخا شوه پـه عالم مشهوره داشوه

فاضل ادیب د سلطنت عهد هم ذکر کړی دی اووایې :

سلطنت د عا لمگیر دی په خپل عهدبې نظیر دی

دترجمې او دشعر دبحر ذکر :

چاچه دنورالدین مولاناعبدالرحمان جامی هروی دیوسف زلیخا کتاب لوستی دی هغوی داسې گڼی چه کتاب مستقیماً دخپلو منابعو (قرآنی آیاتو) نه دجامی صاحب اخذ اوتالیف دی مگر عبدالقادرخـان پکښې یوه نوې خبره رابـر سیره کـړې او دتحقیق لایقه ده چه وایی داقصه په اصل کښې په عربی لیکل شوې ده بیافارسیانو په خپل ژبه کښې اړولی او ما (پکښې دپښتنو دبرخې) پیداکولو دپاره په‌پښتو تر جمه کړه .

مرحوم اوفاضل ادیب دشعر دیوخاص بحرمتعلق دموجوده فضلاؤدیوعام نظر سره ټکرکړی دی اوخفیف بحر اوبیاپه هغه کښې بی‌تکلفی دشعر دټولواوزانونه ګران کارګڼی اوسحرحلال (یاسهل‌ممتنع) ورته وایی راځی ء چه داټولې خبرې د ده له خپلې خولې وا ورو :

ځکه ماپه پښتو ژبه داقصه کړه عجایبه
داقصه اول تازی وه په تازی یې‌اغازی وه
پەفارسی کړه فارسیانو نظم نثرسخندانو
ماهم بیله ترې حصه کړه په پښتومې داقصه کړه
هرپښتون چه‌پرې‌ناظرشی پەلوستویې خوښ‌خاطرشی
له معنی‌یې خاطرشادکا مونږ دې‌هم‌په دعایادکا
مانښه کاردی پکښې‌کړی ښه مضمون مې‌دی راوړی
پکښې شته دعشق خبرې دسلوك ښکلی نادرې
هم خبرې داخلاق شته دبد خوی درنځ ترياك شته
که ترې‌اخلی عبرتو نه پکښې شته نصیحتو نه
په خفیف بحرویلی کل‌دقت ځنی وتلی

لفظ یې لږ معنې یې ډېرې په لذت ترشهدو تیرې

چه خفیف بحر شیرین کا هغه څوك سحر مبین کا

ما شیرین بحر خفیف کړ بی جوابه مې حریف کړ

دینه پس دی بیالکه دحمید ماشوخیل دحاسدانو اوکینه ګرو برخه هم په وعد او وعید کوی او وایی :

که خطا پکښې واقع وی په کرم ددې دافع وی

اعتراض که څوك وکاندې صدرحمت په هغه باندې

په‌جواب‌دی یې‌زړه‌سوړ کا پکښې‌وران‌بیت دې‌دی‌جوړ کا

ګله مندیم له نادا نه چه و ینا کا جوړه ورا نه

په تعجیل ځنې تیریږی لولی پیش‌پس یې هیریږی

په ژبه تبصره :

مرحوم عبدالقادر خان ختك اودهغه وراره کاظم خان شیدا دواړه په صراحت دا وایی چه مونږ قصدا او ګویاتکلفاً په خپل شعر کښې فارسی ته ځای ورکړی او داځکه چه(ګویا) پښتوژبه ډیره ستوغه ده‌چه‌فارسی ورسره ګډه شی‌نوشیروشکر اوخوږ شی .

په دغه وخت کښې لکه چه معلومه ده په عمومی اوکلی صورت دوه شعری

اوثقافتی مکتبونه دی چه یویی دختهکو اوبل یې دمومندو دی .

په دې کښې هیڅ شك نشته چه که یوشیداترې وباسونو محض دفارسی یاعربی لغتونو داستعمال په باب په دغه دواړو مکتبونو کښې هیڅ فرق نشته مگرزه په دې نه پوهیږم چه ولې دختهکو دمکتب نومیالی اوسرویستلی شخصیتونه بیابیا داتاء ثر مخی تـه کوی چـه په پښتوکښې دې خامخا فارسی رنگ ورگډ کـړای شی اوبیـا دمومند ومکتب ولې په دغه باب چوپ دی .

کـیدای شی چه د دې خبری بنیاد دختهکو دخـانی په وجه په خاص خـاندانی تربیت اوثقافت کښې وی ځکه دغه وخت فارسی درباری اوثقافتی ژبه وه .

دخپل شعر په معنوی مزیت اوماهیت باندې دتبصرې کولو څخه علاوه عبدالقادرخان دخپل شعر پهژبه هم داسی تبصره کوی :

شکر شکر کتاب تـم شو — بارله زړه دفکر کـم شو

سرمې هسك شولهزنگونه — خلاص شومزهلهځیگرخونه

پیروی مې د جامی کـړه — ما پخته خپله خامی کـړه

د پښتو ژبـه ده سخته — چـه ادایې کړی یك لخته

پـه یوازی بې لذت شی — بل ملال تـرې طبیعتشی

په فارسی چه شی امیزه — هله شی طرب انگیزه

عـربی چه ورسره شی عـزت بیامومی لانبه شی

ځـکه داشعر آمـیز شـو

ګو هرریز اوشکر بیز شو

بیان او افاده :

په‌دې عنوان کښې زمامقصد یوخرګندتاریخی حقیقت ته‌اشارت‌دی‌اوهغه‌حقیقت‌دادی چه که تاسو دیولسمې اودولسمې پیړۍ په‌دوران‌کښې دخـوشال ،رحـمان،حـمید، میرزاحنان ،شمس‌الدین کاکړ، پیرمحمد کاکړ، محمدهوتك ، خواجه رزق‌الله،میراء توکل یادغسې نوروادبی‌شخصیتونو آثاراودیوانونه‌وګورئ‌نودشعر دسبك،افادې، ژبی اودبیان دانداز له‌مخې به‌تاسو داتفریق ګردسره ونه‌کړای شئ چه داشاعر کندهاری او دانګرهاری دی یاداختك دایوسفزی، دامومند اودا درانی دی.

مګر که په‌طلوع‌افغان یادننګرهار په ورځپاڼه اودپیښور په شهباز یاانجام‌کښې دکوم لیکونکی مضمون یاشعرولولئ نوله ورایه به‌یې وپیژنئ چه دانباغلی کندهاری دابل ځوان ننګرهاری اودابل صاحب پیښوری دی.

داولـــــــی؟

دا خو ځکه چه دغه پیړۍ دپښتو ادب دترقی او پختکی دورې‌دی اودا دبی افادې دپاره دمحلیت‌اوسیمې دتصوراوتأثرنه‌یوه‌اوچته‌اوسپیځلې شوې ژبه‌منځ‌ته‌راغلې‌وه

داسپیڅلی ژبه دپخوانو نومیالو شعرانو دپیروی او اقتفا دجذبې په برکت منځ ته راغلې ده دایوه بین الافغانی ژبه وه چه دلوئې پښتونخوا دهرځای پاك او سپیڅلی لغات پکښې وو ښکلې محاورې اولغاتې لرل اودجمله بندی او ترکیبونو په لحاظ یې محترم اوداسې حدود لرل چه هر ادیب پرې ځان مقید گاڼه بلکه ددغه معیار نه درانښکته شعر دپاره هیڅ ارزښت اوبازار نه ؤ.

مگر اوس موږ هغه دپخوانو جوړه کړې لارشاړه کړه اوخپل خپل محلیت هم را ځخه په نیمه لارکښې پاتې دی(اوطبعاً به هیڅکله هم رشد اوپخوالی ته نه شی رسیدای) اوځکه خومولیکنې پیکه اوبی خونده اودافادې له اړخه نیمگړې اوکمزورې دی .

دمرحوم عبدالقادر شعرپه دغه میزان اومعیار باندې ډیر جوخت او برابردی چه لروبر پښتانه ترې په یوشان خوند اوفایده اخستی شی.لکه چه دی پخپله هم وایی شعرډیر خوږ، مطلب پکښې پوره اودشعری رنگ وروغن خیال پکښې په مکمل صورت ساتل شوی دی .

دترجمې رنگ:

زه چه دترجمې نوم واخلم نوزړه مې بدبدشی اوپه غریبه اومظلومه پښتو مې زړه خوږشی ځـــکه ماته دااوسنی ترجمې رامخې ته شی چه په تمامه معنی ورته سړی دپښتو دمسخ کولواوپوزې پریکولو یوافسوسناك حرکت ویلی شی خودعبدالقادرخان

ترجمه داسې نه‌ده اولکه چه موږ مخکښې وویل دهغه په وړاندې په‌پښتو کښې دشعر ویلو یوروغ میزان‌اوبین‌الافغانی‌معیار پروتۍ چه‌دهغه‌تقاضادپښتو محاورې‌متلونه، خواږه تشبیهات ، روانه او اولسی ژبې استعمالول دی .

عبدالقادرخان په‌ټول کتاب کښې فقط یوځل دجامی صاحب نوم هغه‌هم دکتاب په آخر کښې احتراماً او دتهمت ددفعې دپاره اخلی چه وایی :

پیروی مې دجامی کړه ما پخته خپله خامی کړه

داصحیح ده‌چه‌په قصه‌کښې‌دزیاتی‌کمی‌کولو‌په‌لحاظ عبدالقادرخان‌په‌ترجمه‌کښې مقید دی مګر ددې تقیید معنی او مطلب دانه‌دی‌چه ګنی دی داسې ترجمه کوی چه :

احمد له محمود څخه بلنه وکړه

داهم‌ده چه‌که‌سړی ورپسې بلې ووهمې نوځینی بیتونو به‌دفارسی‌اوپښتوترمنځه تطبیق هم‌کړای شی ولې دکتاب دژبی اومفهوم آزادی په‌ډیر صراحت له‌دې معلومیږی چه څوك یې لولی نوهغه دانه‌شی محسوسولی چه‌کتاب دعبدالقادرخان تألیف نه‌بلکه دهغه ترجمه ده .

دپښتو خواږه متلونه؛ محاوره ژبه، پښتو قالب او چوکاټ او روانی په ډیره خوند ناکه طریقه پکښې محفوظه‌ده اوکه عبدالقادرخان چیرې په‌پښتو کښې دیوی ښې تشبیه یاخوږې افادې اضافه دترجمې په‌صورت اووسیله کړی وی نوداخویې

لاثواب اونیکی ده .

په خپله عبدالقادرخان دې حقیقت ته متوجه دی اووایی چه‌ما پکښې ډیرکارکړی او هرقسم پند ونصیحت ،فلسفی اواخلاقی ښودنوته مې پکښې ځای‌ورکړی دی او دا دیومترجم دکامیابۍ او رسیدګۍ ثبوت اوسند دی .

د عبدالقادرخان یاحمید ماشوخیل غوندې لویې ادبی ستې خوپریږده دترجمې ددې اړخ‌په‌لحاظ چه‌دفارسی انشاءپه‌پښتو چوکاټ‌اواداکښې پرې‌باسې هغه‌دفیاض صفی علیشاه، ملانعمت‌الله اواحمدجان غوندې قصه‌خوانان‌هم‌له موجوده‌ترجمانانونه په‌سل‌وارې بهتر وو چه‌ترجمې ته ژباړه اوقانونګزارۍ ته‌دقانون اینښودل اویاامام نافع ته ګټور امام وایی .

د کتاب ځینی ادبی ملاحظات :

عبدالقادرخان دخراسانی سبك شاعردی، عموماً سهل ممتنع قسم شعردخراسانی سبك خصوصیات دی که‌زه دا ووایم چه دعبدالقادرخان ټول شعر سهل ممتنع‌دی نودا به‌مبالغه وی بلکه زما په‌ګومان حقیقت دادی چه‌دده شعر چیرته اوکله یوازې سهل او ځای په ځای ورسره دامتناع صفت هم ملګری شوی دی او دایوازې په‌دې‌کتاب کښې دده لارنه ده بلکه دده دیوان هم‌دغسې دی اودده شعر دغسې دی .

په دیوان کښې وایې .:

سرې سرې اوښکې دې په‌مخ عبدالقادره

وخپل یارته دیاقوتومهمانی‌ده

په یوسف زلیخا کښې وایی :

دهرڅیزپټول وشی

عشق اومشك پټول نه‌شی

په دې‌ساده افاده اوساده تشبیه کښې همدغومره خونددی لکه په‌پورتنی دیوانی بیت کښې مشك دختکو په‌لهجه کښې بالکل داشك (عشق) تابع دی مگر داتابع مهمل نه‌دی بلکه یوخوشبوی‌مطلوب اومرغوب ځیزدی چه‌ددغه لفظی‌صنعت نه‌علاوه پکښې داحقیقت پروت دی‌چه یوغیرمحسوس اوناملموس حقیقت دیوداسې دلچسپ جسم سره تشبیه کوی‌چه دحسن اوجمال سره همیشه ملگری گرځی .

دښوښو متلونو او محاورو داستعمال نه‌علاوه په کتاب کښې دپښتو ډیرزاړه اوپاخه لغتونه هم‌درج دی دایوځو مثالونه ولولئ :

آره : چه زمری هسی تناکا پـه‌آره ذکـردتـاکا

هیواد : پـه ښکاره کړی فریادونه بزغ دی ځـی پـه هـیوادنـه

آغـ آغلی : چه یـوسف به پکښې راغی لـکه لمرهسې به آغی

نمری : ترې جدانمری وریښمین کړه اغوستن‌دده پشمین‌کړه

ښاغـلی : له کنعانـه‌دی راغلی په‌ښایست کښې دی ښاغـلی

سیله : که می نه کاعزیزسیله نه یې وینځه یم اصیله

عربی شعر :

عبدالقادر خان ختک دکتاب په اولوپاڼو کښې دعربی یو څوخواږه بیتونه لری چه وایی:

یا رحمن یا رحیم اجرنی من الجحیم

یا حنان یا منان ثبتنی علی الایمان

یا اله العالمین الحقنی بالصالحین

یا دیان یا سلطان اعتقنی من النیران

یا ودود یا مجید امتنی علی التوحید

راځی ٤ چه اوس دیوسف زلیخادخوږې یاد قرآن په ژبه دغوره قصې یوڅوښکلی اوغوره شعری تصویرونه وګورو :

دزلیخا ستاینه :

که یې وصف دجمال کړم له دې بابه تل مقال کړم

لکه حق یې دصفت دی چه یې کا دچا قدرت دی

که عرعر دی که چنار دی ترقامت یې شرمسار دی

قد یې سم لکه دسرو په رفتار لکه تدرو

چه وینښته ددې دسروو به ترمشکو تر عنبروو

په هرتاريې په تحقيق زړه پيه لکه عقيق

که زاهد که دانشمند ؤ دوينتو په تاريې بندؤ

څه نسبت يې دکاکلو چه يې زه کړم له سنبلو

سنبل اوسی په صحرا کښې دا په سرو دلربا کښې

ګهی که چه به له خياله په خندا شوه حور مثاله

صاف يې هسی رنګ جبين ؤ چه هرراز پکښی مبين ؤ

توربانه يې تورناوك وو دعاشق په زړه به لك وو

دهغو دواړو چشمانو تا سوواورئ سخندانو

دا ستم به زه په څوکړم چه تشبيه يې له آهو کړم

ترعقيقو يې لب سره وو دعقيقو غوندې نه وو

غاښ يې سپين براق هموارؤ ترګوهرولا آبدا رؤ

ګهی که چه به له خياله په خندا شوه حور مثاله

لعلو دريې له دهنه دا وينا کړم مبرهنه

په هر لورې به نثار شول بهرمند به ځنې خوار شول

ددې زنه لکه سيب وه په امان لهه‌ر آسيب‌وه

سریې ګرد ګردن بلنده — په همزولو کښې څرګنده
له وینښتو یې ساده تن ؤ — لکه ګل ددې بدن ؤ
وه‌یې ډیره ملا باریکه — تروینښته وه لاباریکه
نور به څه تر دازیات شمار کړم — هم په دابه اختصار کړم

سرترپایه خزانه وه
هسې ښکلی جانانه وه

دیوسف ښکلا :

ترکیب شوی درست له نورؤ — په صورت‌ښکلی ترحورؤ
لکه ده در (۱) دا ښایست — هسې نه درچا ښایست
قد یې سم لکه شمشادؤ — تر شمشاده لاآزاد ؤ
مخ یې سپین په مثال نمرؤ — بلکه لارخشنده تر ؤ
زیات یې لاترصباحته — ښکلی مخ پرملاحته
آهوچشمه ګل رخسار ؤ — په دوه شونډو شکر بارؤ
تنګه خوله یې نیست وهسته — ترقامت یې سرو پسته
توئیدې تري مرغلرې — چه به ده کړلې خبرې

(۱)ـ د(درلود) مخفف .

تور ګیسویې مشك افشان‌ؤ
په سپین مخ یې پریشان‌ؤ

شکر لب شیرین کلام ؤ
ګل بدن نازك اندام ؤ

لب یې لعل پربها ؤ
غاښ یې در قیمت بهاؤ

دزړ بوډۍ او ادبار تصویر :

چه ناګاهه به یې اه کړ
دې به آه سحرګاه کړ

په افتاب به یې اوربل کړ
مړ به دې دماه مشعل کړ

که یې نه وه نوره سیوره
پرې دآه سیوره وه توره

دآه چتریې په سر ؤ
چه حجاب به یې دلمر ؤ

په ژړا یې توی باڼه شول
بې بڼو یې تورلیمه شول

تل ددووسترګو له جوی
په سپین مخ به‌وه سرخ روی

یاد به دې دده جبین کړ
په وهل به یی مخ شین کړ

که جبین مې دیار نمر دی
مخ مې شین ترنیلوفر دی

په ژړایې کسی سپین شول
تور نرګس یې یاسمین شول

په تندی یې خرګند نمرشو
وچ ددې سنبل زار ترشو

دکافورو پرې باران شو
مشکین خط یې پرې ویران‌شو

هسې نه شوه په قد خمه
چه به شوه له همساسمه

ددې سرو چه قد خم شو — له زانو سره همدم شو

بې کمیسه بی معجر شوه — داسر توره په سپین سرشوه

دیوسف آس :

توریې ډېر سپین ئې ډېرسپین ؤ — په ویښتو په تن مهین ؤ

ښه یې رنګ ښه یې رونق ؤ — لکه ورځې شپې ابلق ؤ

ابلقی یې یکهمان وه — برابره په میزان وه

دترکیب صفت یې ځوکړم — مګر مثل یې آهو کړم

ځلور جیمه یې کامل وو — ځلور سینه یې حاصل وو

چه په زین به منور شو — په آسمان به ښکاره نمر شو

دسرو زرو به یې نال ؤ — ډېر به بریښتد تر هلال ؤ

نال یې سره میخ یې سپین زرؤ — نال یې ماه میخ یې اخترؤ

ترسبا په منډه تیزؤ — رعد آوازه ؤ برق خیزؤ

که له غرب به ولاړ تر شرق — نه به شو په عرق غرق

دیوسف په مرګ ساندې :

په تلوار روان شویې یاره — زه دې نکړم خبرداره

نسیم ولاړ شو په شتاب — ګل یې ښکل نه کړ رکاب

آه افسوس ارمان ارمان ددې در دنشته درمان
دریغه دریغه زما یاره چه دې خواره کړم یکباره
زه‌دې پرېښوم په تنور کښې ته داخل شوې په سرور کښې
هسې ولاړې چست چالاك مادې ونه نیو فتراك
تف زما په محبت شه تر دا زیات مې لامحنت شه
ته یې پروت له خاورولاندې زه ژوندی په مځکه باندې
ورکه شه لباسی مینه چه یارنه وی دی به وینه
زما عشق دی په دروغه چه تراوسه پایم روغه

یو څوروستی خبرې :

دکتاب خط نهایت ښکلی اودنسخ په‌موجوده ټایپی پښتو طریقه بالکل برابردی. لکه چه مخکښې موویل داخط دمرحوم سردار گل‌محمدخان محمدزائی دی نوموړی فاضل دفارسی ژبې دمشهور ادیب سردار فیض‌محمد خان زکریا (فیضی کابلی) پلاردی فیضی کابلی دابوالمعانی میرزا عبدالقادر بیدل مرحوم داشعارو ډیر ښه څیړندوی اوپه دغه باب کښې ژور بحثونه لری .

دکتاب املاء دموجوده املاء سره هم ترډیره حده اړخ لگوی البته ځینی تفاوتونه هم لری چه زمونږ په معاصره پیړۍ کښې هم‌لیدل کیږی یوڅو مثالونه دادی :

موجوده املاء	دکتاب املاء
کښې	کښې
څښتن	څښتن
کونړ	کونړ
څم	څم
پوښتنه	پښتنه ـ پوشتنه

له‌دې تفاوت نه علاوه اکثر هغه کلمات چه د (آداتو) په حیث‌یې موږ علیحده اوبیل لیکو په‌کتاب کښې مرکب لیکل شوی دی‌مثلا : لتا، لما، لسترګو، پکور او... خدای دې هغه نومیالی سرداران وبښی اواولادته دې‌یې توفیق ورکړی چه‌دپلار، نیکه لار ړنده نه کړی .

:•:•:•:•:•:•:•:•:

د کتاب له مجلې څخه اخیستنه : بناغلی سیفی

وحـدة الـوجود

په دې موضوع دځینو مغربی او مشرقی پوهانو تصورات ؟

وحدةالوجود (۱) یونانی «پین»(۲)دکل پاره او«تهیوس» (۳خدای)په‌فلسفه‌کښې‌دخدای دعینیت اودمادی دنیا مسئله ده، ددې مسئلې نوعیت ددهریت (٤) او اذعانی خدا پرستی (٥) په منځ کښې یو منځنی شی دی .

یو فلسفی دخدای د وجودله تصور څخه په درو طریقو بحث کولای شی اول‌دیو داسې وجود د تصور څخه چه هغه د ټولو موجوداتو علت او حقیقی اصل او بنسټ دی ، دوهم د هغه دوجود څخه په مطلق ډول انکار او یاورباندې اقرار کولای شی ، دریم هغه بیا دا استنتاج کولای شی یعنی دا نتیجه ورڅخه اخیستلای شی چه هغه د ټولو شیانو علت‌العلل (٦) دی .

---

(1) Pantheism (2) Pan (3) Theos (4) Atheism (5) Theism
(6) First Cause

(امریکا ناانسائیکلو پیډیا دپورته عنوان دمادې لاندې) وحدةالوجود او نور هغه اصطلاحات چه‌ددې موضوع سره تعلق لری ټول داصل داعتبار په لحاظ نوی دی ټولینه (۱) په‌سنه ۱۷۰۵ ع کښې خپل ځان ته وحدةالوجودی ویلی‌ؤ ؛ او داسې ویل کیږی چه دالفظ له‌ده څخه لومړی بل‌چانه دی استعمال کړی‌جونس (۲) دوحدةالوجود تعریف داسې کړی دی

« هغه شخص چه خدای دکائناتو سره ګډوی او یو رازکوی دانوم داسپنوزا پیروانوته ورکول کیږی » لیکن هرکله چه دا اصطلاح ګانې یوځل ددې مفهوم دپاره وضع شوی دی نو ددینه وروسته خلکو دپخوانیو فکری نظامونو د تشریح دپاره هم ددې اصطلاح ګانو په استعمالولو پیل وکړ ؛ همدا سبب دی چه موږوینو چه دیو مکتب پیروانو ته یوازې په دې سبب وحدةالوجودی وائی چه هغوی خـر خدای د مرتبې په لحاظ اول ګڼی مګر دزمانې په لحاظ ئې اول نه ګڼی او په دې ترتیب او لحاظ ددوی په دې کار او فکر کښې د تخلیق څخه د انکار کنایه پټه او مضمره ده ؛ دوهم مکتب ته ځکه وحدةالوجودی وائی چه دغه مکتب په انفرادی روحونو عقیده نه‌لری بلکه هغه ددې انفرادی روحونو په ځای د حیات په یو آفاقی حساس قوت عقیده لری .

(1) Toland (2) Johnsa

او په همدې اساس دې مکتب ته په دې لحاظ وحدةالوجودی وائی یعنی هـغه خدای یو داسې جاری اوساری ذات گنی لکه څنگه چه سا او تنفس د انسان پـه رگونو او پلو کښې جاری او ساری دی . همدا راز دغه خلك روح د خـدای یـوه مخصوصه برخه او جزء گنی ، څلورم مکتب له دې کبله وحدةالوجودی گنل کیږی چه دغه ډله او مکتب دا خبره نه منی چه مخلوقات د عدم څخه وجود ته راځی یعنی دنیست څخه شته کیږی ؛ بلکه دغه‌ډله په‌یو داسې لامحدود ازلی جوهر عقیده‌لری چه هغه خپل ځان په‌خپله عمل اوکارته چمتو کوی او صورتونوته (۱) دهررنگی اویا کثرت کالی وراغوندی، هغه صورتونه چه کائنات تشکیلوی اودغه تشکیل په پای او نتیجه کښې د وحدت یو نه پوهیدونکی ادراك ته‌بیرته هغه ځـای تـه ورگرځی دکوم ځای چه‌ئې ظهور کړیؤ .

په هرحال په الهیاتو او فلسفه کښې د وحدةالوجود نظریه داده چه : « یوازې خدای هرڅه دی او ټول شیان یعنی هرڅه خدای دی » دا کائنات نه خودخدای لـه ذات څخه‌کوم جلا مخلوقات دی؛ اونه‌دوی محض دخدای جزءدی؛ نه‌خدای‌کائنات‌دی اونه کائنات خدای دی . محدود قلوب، محدود اشیاء ؛ او دعاموانسانی مشاهدوټول معروضات (۲) دخدای محض شئون ،مظـاهر یا اجزاء دی ، اوخـدای په دغوشیانو

(1) Form (2) Objects

کښې دهريو څخه او هم ددغو شيانو دټولې مجموعې څخه ډېر لوی دی .

دوحدةالوجود دفلسفی کلاسيکی شارح سپينوزاؤ ؛ ليکن دکوم ځای سره چه دوحدةالوجود عقيده تعلق لری داعقيده ډېره زړه يعنی ډېره پخوانی او بين‌الاقوامی عقيده ده او بنايی چه دمسيح نه يوزر کاله‌وړاندې داعقيده په بهارت کښې دبرهمااو کائناتو دوحدة په‌شکل کښې موجوده‌وه ؛ په‌مصر کښې داعقيده له‌دېنه هم‌په‌ډېرو پخوانو مودو کښې موندله‌کېدلای شی لکه چه په مصر کښې به (۱) اسيس (۲) د هر موجود مرادف ګڼل کېده ؛ دپلوټارك دوينا سره سم د اسيس په معبد کښې دا کتيبه نصب ده :

« زه هم هغه هرڅه يم چه هغه موجودؤ ، دی او يا به په آينده کښې وی ، او هيڅ کوم يو بشر زما دوجود څخه نقاب نه دی پورته کړی » ديونان په خلکو کښې د مسيح نه وړاندې د شپږمې پېړۍ څخه وحدةالوجودی حکماء پيدا شوی دی چه په‌دغو حکماؤ کښې ډېر مشهور دادی : زينو فانس، (۳) پرميډيز (٤) هير اقلائطس (۵) او رواقی هغه حکيم کلينتهز (٦) چه دزيوس (۷) په شان کښې دهغه قصيده په وحدةالوجودی شاعری کښې د شاعری شاهکار دی .

(1) Ra (2) Osiris (3) Xenophones (4) Permendis
(5)Heraclitus (6) Cleenthes (7) Zeus

په منځنیو پېړیو کښې وحدةالوجودی رجحان نوی په نوی افلاطونی (۱) دبستان او دټولو تاریخی مذهبونو په ځینو ترجمانانو کښې موندلی کېږی سربېره په نورو دعیسائیت نمایندگی (جون دی اسکاټ ایرلخنبا) په نهمه میلادی پېړۍ کښې او ډیوډ په دوولسمه میلادی پېړۍ کښې کړې ده ؛ اوپه دې پېړیو کښې د اسلامی ملت ډېر لوی او پیاوړی وحدةالوجودی حکیم ابن رشدؤ چه په دوولسمه پېړۍ کښې تېر شوی دی او په نشأت ثانیه کښې او یا په بل عبارت ددوهم نشأت پەزمانه کښې ډېر مشهوره وحدةالوجودی برونو (۲) تېرشوی دی. چه په سنه ۱٦۰۰ ه کښې دمحکمې په حکم ژوندی په اورو سوځولی شو .

له ده نه وروسته په دې لړ کښې دسپنوزا او بیاد جون ټولینډ نوم د ذکروړدی چه دوی له ټولو لومړی په سنه ۱۷۰۵ ع کښې وحدةالوجودی اصطلاح په خلکو کښې عامه کړه مگرداتلسمې پېړۍ پەوروستۍ برخه کښې خبره دې ځای تەراورسیده چه د وحدةالوجودی نظریه به له دهریت سره مرادفه ګڼل کېده او دا اصطلاح به دښکنځلو په ځای خلکو استعمالوله لیکن له دې لنډې دورې نه وروسته موږ بیا دوحدةالوجود پەتاریخ کښې دډېرو مشهورو خلکو دنومونو سره مخامخ کېږو

(1) Neo-platonnie (2) Bruno

د مثال په ډول په شاعرانو کښې لیسنګ (۱) ګویته (۲) په فلاسفه ؤ کښې فشطې (۳) شلینګ (٤) او هیګل (۵) او دالهیاتو په عیسائی علماؤ کښې شلائر ماخر (٦) او تراس (۷)

(دپوره تفصیل دپاره برتانیکا انسائیکلو پیډیا وګورئ) له دی خلکو وروسته په دې لړ کښې تاسې د مسلمانانو وحدةالوجود یانو نظریاتو ته هم ځیرشئ اوداددې دپاره چه ددې مختلفو نظریاتو په رڼاکښې تاسې ته ددې مسئلې صحیح شکل په پوره ډول ښکاره او څرګند شی ؛ پهدې موضوع مشهور مستشرق ماسینیون (۸) او ابوبکر سراج په اسلامی دائرةالمعارف کښې چه کوم مفصل بحثونه کړی دی دهغو بحثونو څخه موږ دهغو داهمیت او پوره افادیت په لحاظ دا دوه اقتباسونه ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوو .

په څلورمه هجری پېړۍ کښې دیونانی فلسفې دهغه نفوذ په اثرچه اول دقرامطؤ ادریهٔ ؤ (۹) څخه شروع او درازی طبیب څخه تر ابن سینا پورې په مسلسل ډول را روانؤ دروح اونفس دغیرمادیت ، او دعمومی تصوراتو او دثانوی عللو دپارهٔئې دپر صحیح اصطلاحات وضع کړل ، لیکن دامصطلحات دکتاب‌الالهیات نومی هغه کتاب

(1) Lessing (2) Goethe (3) Fichte (4) Schelling (5) Hegel (6) Schleirmacher (7) Strais (8) Louis-Massignon ((9) Gnostics

د مصطلحاتو سره چه ارسطو ته منسوب دی او دافلاطون دمثالیه فلسفې او دفلوطنیس دصدور دنظریې (۱) سره گد او مخلوط شول ؛ اودې کار د تصوف په راتلونکی نشونما او پرمختگ پوره تأثیر وکړ ؛ ددې عصر او دورې صوفیان او مشایخ په دې خبره کښې حیران او متذبذب وو چه دصوفیانه اتحاد دپاره له درو پورته ذکر شوو تشریحاتو څخه موږ کومه تشریح قبوله کړو .

الف : د ابن مسرت او اخوان الصفاء څخه رانیولې ترفارابی او ابن قیسی پورې د مشایخو نظریه داده چه دعقل فعال دتأثیر څخه چه په نفس منفعل کښې کوم معانی پیداکیږی دهغه نوم اتحاد دی (او عقل فعال دالهی فیضان نوم دی ، او دقرامطهٔ ؤ او سالمیهٔ ؤ په عقیده الهی فیض محمدی نور دی) .

ب : داشراقیه ، سهروردی ، حلبی څخه نیولې تر محقق دوانی اوصدرالدین شیرازی پورې چه داټول دروح په تجویر قائل وو ؛ او دې ټولو به داویل چه روح دایزدی نور هغه شیرازه ده چه دهغه ژوندون دعقل فعال په وړانگو رڼا او روښانه کیږی .

ج: وصولیه ،دابن سیناڅخه نیولې تر ابن طفیل او ابن سبعین پورې ټولو فقط په دومره خبره اکتفاء کړې ده چه روح دالهی ذات سره موافقه حاصلوی او دښه

(1) Emanatian

وروسته د يو داسې جامع وجود شعور پيداکېږی چه په دغه وجود کښې د کوم ډول امتياز سوال بيخی نه پيداکېږی ؛ بايد په دې لړ کښې داخبره هم په‌نظر کښې‌ونيولی شی چه د «اتحاديه »دا نظريه چـه ابن‌سينا اول اول دنجات (دقاهـری چـاپ) په

(٤٠٢ ـ ٤٨١) مخونو کښې منلې وه ليکن دېنه وروسته‌ئې دانظريه د اشارات دنهم باب په(١١٨)مخ کښې‌رد کړې‌ده(ددې‌موضوع‌دپوره تفصيل‌دپاره‌دابن‌عربی‌تجليات‌وگورئ) او امام غزالی هم دخپل مقاصد الفلاسفه نومی کـتاب په (٧٤) مـخ کښې‌ددې‌نظريې تردید کړی دی او هم‌ئې ددې مفکورې تردید کړی دی چه ابن سبعين سره ددې چه دمادې په قدم‌ئې پخه عقيده لرله دخدای په ذات کښې ئې بې دمخلوقاتو دصورت څخه بل هيڅ شی نه ليده .

دتصوف د نظريې ارتقاء د دريمې او وروستۍ دورې آغاز له‌اوومی اويادیارلسمی پېړۍ څخه کېږی ددې تصوف ډېر ممتاز مکتب ته ددې تصوف حريفانو په‌ډېرمناسب ډول وحدتيه (ياوحدةالوجوديته) لقب ورکړی‌ؤ .

دې خلکو په ځينو قرآنی آيتونو کښې دخپلو مقاصدو سره سم تأويلونه وکړل او همدغه رازئې د پخونو اشعری متلکلمينو دانظريه هم‌چه ټول روحاتـی احـوال بلاواسططه الهی افعال دی ؛ اوهمدغه رازئې‌دبسطامی او حلاج دمبالغونه‌ډک‌بيانونه‌هم

بې تأویله پرې نه ښول(چه له دغو تاویلونو څخه ځینی عین‌القضاة همدانی په خپل تمهیدات نومی کتاب کښې سره راغونډ کړی دی)

حقیقت دادی چه وحدیه مذهب له دریمی هجری پېړۍ څخه را شروع شوی دی او هغه په دې ډول چه مسلمان اودئین (۱) نظریه نور محمدی کټمټ هم هغه نظریه ده کومه چه دیونانیانو دعقل فعال دتصور دبروز نظریه ده(ابن رشدهم دبروز له‌دې نظریې دتأثیر څخه آزاد نه‌دی پاتې شوی؛ او داځکه چه‌په (تهافة‌التهافة) کښې هغه په دې خبره ټینګار کوی چه دخدای په علم‌کښې دیوشی موجودیدل دشیانو دوجود دپاره ډیر لوړ مقام دی).

سره ددې ټولو خبروابن عربی‌په سنه ٦٧٨ ـ او سنه۱۲۸۰ هجری‌کاونو کښې‌دنورو ټولو خلکو څخه هغه لومړی شخص دی چه هغه دوحدة‌الوجود دمذهب اصول منضبط کړل .دابن عربی په عقیده لکه چه ابن تیمیه ډېر په ځای ویلی دی دمخلوقاتو وجود عین دخالق وجود دی ، دوی دا نظریه لرې چه اشیاء په لازمی ډول د علم باری یعنی دهغه ځای څخه چه پـه هغه ځای کښې دنه شیان داعیان پـه شکل کښې موجـود «مثبوت»وو دیو فیض په شکل صادرېږی او په پنځو مراتبو او یا دورو کښې ظهور کوی ـ او داخبره چه هریو روح په یوه ـکومه طریقه داسې مرحلې طی کوی چـه

(1) Grostics

په دغه کار منطقی تسلسل او رابطه قائمېږی اودېنه وروسته دغه‌شیان بېرته دالهی ذات سره یوځای کېږی ؛ په دې مذهب کښې چه دا مذهب ترنن ورځې پورې ټول صوفیان منی فرغانی او جیلی یو ځوجزئیات ورزیات کړی دی .

فارسی شاعرانو دې نظریې ته په نه ختمیدونکی ډول په ډېر آسان او ساده شکل په خپلو شعرونو کښې ځای ورکړی‌دی ـ لکه چه قوتیوی دعطار خیالاتو ته یوخاص ترتیب ورکړی او هغه ئې په دې ډول بیان کړی دی « الله په خپله وجود دی په دې اعتبار چه کلی دی ـ قایم بالغیر نه دی » ؟ لکه څنګه چه سمندر دخپلو موجونو لاندې بهېږی همدغه راز دا افراد دکائناتو په خوځندواوګرځېدونکو شکلونو اوصورتونو کښې ګرځی او روان دی ، د اولسمی عیسوی پېړۍ په پای کښې د « کورانی ـ او نابلسی دې وینا چه دشهادت ان‌لااله‌الاالله ډېر صحیح تأویل یوازې دوحدةالوجود د عقیدې لاندې ممکن دی دراسخې اوپخې عقیدې سنی مسلمانان ډېر خپه او په قهر کړل ددې مسئلې دپوره تفصیل دپاره ماسیونون (۱) له سنه ۷۸٤ نـه تر ۷۹۰ پورې وګورئ .

دځینو اروپائی مستشرقینو په عقیده د اسلامی تصوف مأخذ دغیر اسلامی‌تصوف مکتبونه دی . لیکن نکلسن وائی چه دا مفکوره بیخی غلطه ده ؛ په دې لړ کښې

(1) Halaj: Massignon

ماسینیون خپل موقف خلکوته په دې ډول وړاندې کوی :

د تصوف دمأخذ تنقیدی مرحله تر اوسه د تکمیل درجې ته نـه ده رسېدلې د تصوف په دې موجوده عقیده وحدةالوجود او دراسخ العقیده مسلمانانـو دصحیحو عقیدو په منځ کښې چه کوم اساسی اختلاف موجود دی، هغه‌ابتدائی اروپائی محققین چه نوی ئې په اسلامی مطالعو پیل کړیؤ دې اساسی اختلاف تـه حیران شوی او ددې خبرې هڅې ته اړشوی‌وو چه دوی دتصوف سرچینه په غیر اسلامی عنـاصـرو کښې وپلټی ؛ دغو ابتدائی محققینو دانظریه درلوده چه د تصوف داعقیده دشامـی رهبانیت څخه اخیـستل شوې ده (او هـمدا د«مرکـس» (۱)مفکوره هم‌وه)او یـا دیونان د اشراق او یا د ایران دزرتشتی مذهب او یا دهندوستان دویدانت د فلسفې څخه اخیستل شوی ده (او همداد جونز (۲) مفکـوره‌ده) لیـکن د (یـانکـلن) د دتحقیق له مخې دامفروضه چه په دې ساده شکل کښې د تصوف عقیده په مستعار ډول اخیستل شوې ده نه‌شی ثبتېدلای ؛ اوداځـکه چـه داسلام دابتداء څـخه حقیقت لیدل کېږی چه د اسلامی صوفیانو د خصوصی نظریاتو تشکیل په خپله د هغو په ذهنونو کښې د قرآن مجید دتلاوت او دحدیث د مداومت اودقرآن‌اوحدیث په محتویاتو کښې دتفکر اوتدبیرپه اثر دنتیجې په ډول را پیداشـوی دی.

(1) Merx (2) Jones

ددې نظریاتو په تشکیل کښې چه داسلام ی‌ټولنې په مرکز کښې کوم اجتماعی او انفرادی بحرانونه پېښ شول ددغو بحرانونو اثر هم ملګری شو ؛ مګر سره ددې چه موږ داخبره هم ومنو چه د تصوف ابتدائی اسکلیټ خالص اسلامی او عربی‌ؤ نو دهغو خارجی عناصرو تعین او منل به هم بې ځایه نه‌وی چه دهغو په اثر ددې سکلیټ په ښکلا کښې زیاتوالی راغلی دی او دغو عناصرو په همدی تصوف کښې وده کړی اوروزل شوی‌دی لکه چه په دې‌وختونو کښې «آزین‌پلاچیوس» (۱) ونسنك (۲) اندریه(۳) غوندې محققینو په مسلمانانو صوفیانو کښې ځینی دا ډول ریاضتونه معلوم اوکشف کړی‌دی چه دهغو منبع مسیحی رهبانیت دی ، او همدغه راز دوی ته ډېرې داسې فلسفیانه یونانی اصطلاح ګانې هم معلومې شوی چه هغه د سریانی ژبې څخه ترجمه شوی دی .

هغه ایرانی مماثلتونو ته (چه هغوته بلوشه (٤)اشاره کړې ده . تراوسه په پوره ډول نه‌دی کتل شوی ؛ اوپاتې شو هندوستانی عناصرنو (هورتن (٥) دمفکورې سره سم)پرته‌دالبیرونی او داراشکوه‌دهغو زړو قیاس‌آرائی‌ګانو څخه چه دوی دقدیمی تصوف دتصوراتو او اپنشد اویوګ‌سوتر په‌منځ کښې دمشابهت

(1) Palacios (2) Wensinck (3) T. Andrae (4) Blochet
(5) Horton

دلیدلو نه وروسته کړی وي ډیر لږ دلایل زیات کړای شوی دی، ددې په‌عکس نن چـه دصوفیانو په مجلسونو کښې کومې خبرې کیږی دهغو څخه داسې معلومیږی‌چه ممکنه ده چه دوی غالباً دې نتیجې ته ورسیږی چه په تصوف کښې دځینو هندوانو زاهدانو ځینی طریقې داخلې شوی‌دی(ددې مطلب دپوره توضیح دپاره دپورته ذکرشوی کتاب له٤٢٦ څخه تر٤٢٧ پورې مضمون وگـورئ).

دوحدت الوجو دمسئلې په شااوخوا کښې داسلامی صوفیانو دعقائدو اونظریاتو په‌خصوص کښې چه‌ابوبکر سراج کوم توضیحات وړاندې کړی‌دی هغه دانسان سره دشیخ عبدالقادر جیلانی په نژدې روحانی اولادکښې محی‌الدین ابن عربی په سنه٦٣٨ هجری کښې تیر شوی‌دی اوپه‌صوفیانو کښې دشیخ‌اکبر په‌نوم یادیږی اودوحدت‌الوجود دمسئلې نسبت‌هم ده ته‌کیږی که‌څه‌هم دایوه مبالغه ده اوحقیقت دادی چـه داشخص هغه لومړی شخص دی چه‌ده دغه عقیده په پوره ډول منضبطه کړه؛لیکن داعقیده په‌ټول تصوف کښې مضمره ده د مثال په ډول له‌ده نه لومړی تستری اوسالمیه طریقې په سنه ٢٨٣ هجری کښې دامسئله په واضح ډول بیان کړې‌وه سربیره په‌دوی‌حلاج په‌سنه ٣٠٩ هجری کښې (که څه هم ماسینون ددوی په خلاف ددې مسئلې دثابتولو کوښښ کړی دی) او امام غزالی هم په(مشکواة الانوار) کښې ددې‌عقیدې طـرفداری کړې‌ده؛ په اسلام کښې ددې‌اساس دقرآن دآیاتو نو په‌دې مطالبو بنادی:

تاسې چه‌هرې خواته مخ وګرځوئ هم‌هغې خواته‌خدای؛ اوپرته دالله‌تعالی دذات ځخه نور ټول شیان فناکیدونکی دی او هر څومره شیان چه دمځکی په مخ‌دی هغه ټول فناکیدونکی دی او یوازې ستاسی دپروردګار ذات به باقی پاتې‌شی.

په ابدی حال (٤٠) کښې‌چه هرشی هلاک‌کیدونکیؤ هغه لومړی هلاک شوی‌دی اوکوم شی چه فناکیدونکی ؤ هغه پخوا فناشوی دی او یوازې درب ذوالجلال والاکرام ذات‌باقی دی؛ همدغه راز دوحدت‌الوجود اصطلاح داحقیقت څرګندوی چه په‌کثرت‌سره پیداشوی مخلوق سره‌په حجاب کښې دننه یوازې یوحقانی وحدت موجوددی، لیکن ددې مطلب دانه دی چه دلله ذات په ډیر واجزاوو مشتمل دی بلکه ددې مطلب دادی چه‌دکائناتو دمخلوق دمختلفو اوپه‌ظاهر کښې دیوبل څخه دګوښو مظاهرو دپردې شاته لامتناهی الهی کاملیت دخپل غیر مستقیم کلیت سره موجوددی.

په دې خبره‌کښې شك نسته چه د ابن عربی په‌جزوی ډول دامقصدؤچه‌بایدموږ د الله‌تعالی دهغه لاانتهائیت دتصور حفاظت اوحمایت وکړو چه‌په دې (حیث‌کښې څرګندکړای شوی‌دی چه«الله‌تعالیؤ اوبې له‌هغه څخه‌بل هیڅ‌شی نه‌ؤ»(بخاری؛٥٩خلق) اوپه‌دې روایت کښې چه‌دنبی صلی‌الله‌علیه وسلم‌څخه شوی دی«هغه‌نن هم‌هغه‌شان دی‌لکه‌څنګه چه‌پخواؤ» همداسبب‌دی چه‌ابن‌عربی په‌دې عقیده دپخوانیو څخه ډېر ټینګ شو اوداځکه چه‌په دغه وخت‌کښې به‌ورځ‌په ورځ ددې خبرې رجحان ډېرېده

چه باید دتوحید دعقیدې توجیه دخالص عددی اعتبار لـه مخې وکړای شی. لیکن
په وحدةالوجود اصرار کول یوخاص اصولی اهمیت‌هم لری اوداځکه چه‌ددې ټینګار
اواصرار په‌اثر هریومتصوف دې خبرې‌ته اړکیږی چه هروخت خپل ځان که فعلا
نه‌وی توبالقوه خوهرو مرو په « ابدی حال » کښې وساتی ، چه‌همداشی دهرقسم
تصوف وروستی اوآخرین‌منزل‌دی اوکه‌دالحاظ پکښې نه‌وی‌نوپه‌دغه صورت‌کښې‌به
داعقیده هیڅ معنی ونه‌لری. هـرکله چـه دابن عـربی څخه پـوښتنه وشوه چـه
«که‌ته یومردار شی‌اویانجاست ووینې‌نوته‌به‌څه‌وایې ؟نوهغه‌ورته په‌جواب‌کښې‌وویل
استغفرالله داسی‌کله‌کېدلای‌شی لېکن‌زمونږ مخاطب‌هغه خلک‌دی‌چه‌هغوی‌سترګی‌لری
او پیدایشی ړانده نه‌دی (ددې مطلب دپوره توضیح‌دپاره رائل ایشیاټک سوسائټی
جرنل ۱۹۰۱، ۸۲۳ وګورئ)ددغه تفصیل‌دمطالعې نه‌به‌تاسی‌ته داحقیقت‌څرګندشی
چه هغه عقیده چه زموږدبحث لاندې ده دفلسفې دهغه نظام څخه بیخی اختلاف لری
چه مستشر قینو دهغې تصور کړی دی نورو صوفیانو مشایخو هم خپلو مریدانو ته
کټمټ دهمدغه مقصد تلقین کړی دی چه«پوستکی وغورځوئ اومغز ورڅخه واخلی
دوحدةالجود دعقیدې په زړه پورې بیان دابن عربی ددوهم عصر دشاعرانو په‌کـلام
کښې لیدل کیږی یعنی دعمربن‌الفارض مصری په۶۲۳ هجری کال اوجلال‌الدین
رومی (په۶۷۲ هجری کال کښې) په شعرونو کښې اوله دغه وخت نه ترنن ورځې

پورې دډېروصوفيانو مشايخوپه تعليماتو او تصنيفاتو کښې داعقيده ډېره ښکاره اوڅرګنده ده (ددې مقصددپوره توضيح‌دپاره داردواسلامی هغه دائرةالمعارف څلورم جلدوګورئ چه‌په‌لاهورکښې چاپ‌شوی‌دی‌د٤٣٣کال نه‌وروسته دتصوف‌دعنوان‌لاندې)

لکه چه موږته معلومه شوی ده پـه اسلامی نړۍ کښې دوحدةالوجود دمسئلې ډېرلوی شارح شيخ اکبر ابـن عـربـی دی اودده تصانيف فتوحـات المکيه او فصوص‌الحکم‌دوحدةالوجودپه‌مسئله‌کښې دقول‌فيصل اووروستۍ فيصلې‌حيثيت‌لری په‌دې موضوع دفصوص‌الحکم‌دااقتباس‌دکتلوورې‌دی‌اوددې اقتباس په‌لوستلوانسان‌ته دوحدةالوجود دعقايدو اونظرياتو حقيقت په‌ښه‌ډول څرګندېږی .

اوهمدغه رازهغه الله‌تعالی دعالم په هر موجود شی کښې په هغه اندازه موجوددی څومره چه دهغه شی حقيقت وی اوڅومره چه‌ددې شی حقيقت دهغه ضرورت غوښتنه کوی‌ليکن دکائناتوپه هيڅ‌يوشی کښې هم‌هغه په‌کلی ډول موجودنه وی اوداڅکه چه‌د؛کار يوازې دخليفه يعنی دانسان دپاره‌مخصوص‌دی (يعنی الله‌تعالی دکائناتوپه نوروټولو شيانو کښې خوپه جزوی ډول موجوددی‌ليکن داخبره يوازې دانسان‌دپاره مخصوصه ده چه هغه په‌ده‌کښې په مجموعی اويا‌کلی ډول موجودوی ، اوکه په‌صوری موجوداتو کښې حـق‌تعالی جاری اوساری نـه‌وای نوداعـالـم بـه بيخی نـه وای يعنی ددې عالم وجود به بيخی نـه‌وای ؛ لکه څـنګه چه که دکليه معقولاتو

حقایق نه وای نوپه عینیه موجوداتو کښې به کوم ظاهری حکم بیخی نه وای او دهمدې ضرورت په اساس‌الله تعالی ته داضرورت پېښ شو چه د خپل وجوددپاره عالم پیدا او کائنات خلق کړی .

حقیقت دادی چه کوم تصور چه دابن عربی په تحت الشعور کښې کار کوی هغه دادی چه دا کائنات چه دی ورته الموجودات بالصورت او یا صوری موجودات وائی دا ټول دالحق مختلف صورتونه او یا وړانګې دی او دا صورتونه او وړانګې کټمټ د افلاطون ازلی تصورات اویا اعیان ثابته دی چه دا ټول د نوع یا اصل په‌لحاظ یودی مگر دفروعو پــه اعتبار ډېــر او مختلف دی ؛ ددوی پــه عقیده د الله‌تعالی ذات‌دیوې ونې غوندې مثال لری چه‌دغه ونه‌ډېر زیات اولامتناهی ښاخونه لری او دغه ټول ښاخونه په هرلحاظ په هره لحظه کښې دده په حکم پیداکېږی او بیاتل په همده کښې بېرته فنا کېږی دی په همدې اعتبار دغو ښاخونوته اعیان ثابته وائی او په همدې اعتبار دی خالق او مخلوق دواړه یوشی گنهی او په دوی کښې امتیاز اوتفاوت پیداکول گناه اوشرك گنهی؛ لیکن ددې پورته مضمون لنډ مطــب دادی چه دی یو انتها پسند شخص دی اوله دې کبله دی هرشی‌تــه واړه‌دی دی وایــی .

ابن عربی دالهی وجود مشاهده ددوو اعتبارونو له مخې کوی چه اول ته ئې

په اصطلاح کښې مطلق اوبل ته ئې اضافی وائی ؛ هرکله چه‌ددې شیانومشاهده داطلاق داعتبارله مخی کېږی نودوی ته پرته دمطلق‌ذات څخه بل‌شی نه ښکار ېږی؛ لیکن هرکله چه‌ددوی دا مشاهده داضافی اعتبار له‌مخې وی نوپه دغه صورت ددې مطلق ذات دعرض په بوټی کښې پټ اومضمر وینی اوله دغه ځای څخه په بې شمېره مختلفو رنګارنګ بوقلمون شکلونو کښې خپله جلوه څرګندوی ؛که څه همدابن عربی په عقیده خوالله‌تعالی په ټولو موجوداتو کښې جاری اوساری دی لیکن هغه دخپلو ټولو صفاتو سره یوازی او یوازې په انسان کښې ظهور کوی مګر په هروخت کښې نه یعنی کله کله خودی دخدای په صفاتو کښې وی او کله کله له دغو صفاتو څخه بیخی عاری ؛ لنډه داچه ابن عربی په‌خپل‌مسلك‌کښې دیو انتها پسند وحدةالوجودی غوندې خپله دا نظریه په نظم او نثر دواړو کښې ځای په ځای ښکاره او څرګنده کړې ده .

په دې ځای کښې به داخبره بیځایه نه وی چه موږ دوحدة الوجود د مسئلې په‌شاوخوا کښې دابن عربی دنظریاتو دڅرګندولو نه وروسته دعلامهٔ اقبال نظریات هم په دې خصوص کښې ګرانو لوستونکو ته وړاندې‌کړو او داکار به ددې ګرانې مسئلې په حل او ددې مسئلې حقیقت ته‌په رسېدلو کښې ډېره مرسته وکړی .

داعلامه لیکی : چه په مغربی آسیا کښې اسلامی تحریك هم یوډېر مهم

د عمل پیغام ؤ ؛ گویا په دې تحریك «انا» یو مخلوق موجود دی چه‌دا موجود دعمل په ذریعه لازوال کېدلای شی ، مگر د « انـا » دمسئلې په تحقیق ـ اوتدقیق کښې دمسلمانانو او هندوانو په ذهنی تاریخ کښې یوعجیبه او ناآشنا مماثلت موجـود دی او هغه داچـه د خیال دکومـی نقطې څخه چه شری شنکر دگیتا په تفسیر پیل کړی دی ؛ دخیال دهمدغې نقطې څخه شیخ محی‌الدین ابن عربی اندلسی د قرآن په تفسیر پیل کړی دی او دده دغه کار دمسلمانانو په زړونو اودماغونو ډېـر زیات اوپوره تأثیر اچولی دی .

د شیخ‌اکبرعلم او فضل او دهغه لوړ شخصیت‌دوحدة‌الوجودهغه مسئله‌چه‌دی‌ددغی مسئلې یوازینې مفسر دی داسلامی تخیل یونه بېلیدونکی عنصر وگرځوله ،پـه اوحدالدین کرمانی او فخرالدین عراقی دده تعلیم ډېر زیات تاثیروکړاو ورووروپه څورلسمه پیـړی کښې ټـول عجمی شاعران پـه دې رنـگ شول : لنډه داچه دهندوانو حکماوو دوحدة‌الوجود دمسئلې‌داثبـات دپاره‌خپل‌دماغ‌مخاطب کړ مگر دفارس شاعرانو ددې مسئلې په‌تفسیر کښې ډېره خطرناکه لار غوره کړه‌یعنې هغو ددې مسئلې هدف او ټکی زړه وگرځاوه او په دې لړ کښې ددوی دخوږوجملو او ښکلو نکته آفرینیو نتیجه داشوه چه‌ددې مسئلې‌ترعوامو‌پورې په‌رارسېدلو‌تقریباً ټـول مسلمانان دعمل دذوق څخه محروم اوپې برخې کړل په دوی کښې ډېر دا ډول

خلك وو چه دخپل طبیعی میلان په اثر وجودی فلسفی ته‌ډېرمائل‌وولکه‌چه‌داسلام‌نه وړاندې هم په فارسی قوم‌کښې دغه میلان موجود ؤکه څه هم اسلام تریوې مودې پورې ددوی ددې عقیدې دتعمیم مخه ونیوله مگر سره ددې هم دموقع اوفرصت د موندلونه وروسته دایرانیانو آبائی او طبیعی مذاق په ښه‌ډول څرگندشو ؛یاپه‌بل عبارت په مسلمانانو کښې دیوداسې لټر یچر بنسټ کېښوولای شوچه‌دهغه اساس وحدة الوجود ؛

حقیقت دادی چه صوفیان دتوحید اووحدةالوجوددمعنی او مطلب‌په‌پوهېدلوکښې ډېرسخت تېروتلی دی دادواړه اصطلاح ګانې مترادفې نه‌دی بلکه دلومړی یعنی دتوحید مفهوم خالص مذهبی دی‌اودورستی‌یعنی‌وحدةالوجود مفهوم خالص‌فلسفیانه دی ،دتوحید په مقابله کښې‌یادتوحید په ضدکثرت نه‌دی لکه‌چه‌صوفیانوداخیال‌کړی دی بلکه دتوحید ضد اومقابل شرك دی ،ددې غلطۍ نتیجه داشوه چه کوموخلکوچه وحدةالوجود یاددې موجوده زمانې داروپا دفلسفې داصطلاح سره توحید ثابت‌کړی دی هغه موحد ګڼل شوی دی ؛ حال داچه هغه‌مسئله چه دوی ثابته‌کړې‌ده‌هغه‌مسئله دمذهب‌سره تعلق نه‌لری بلکه‌دعالم دنظام دحقیقت‌سره تعلق‌لری ،پدی‌موضوع‌کښې داسلام‌تعلیم‌ډېر صاف اوروښانه دی ،یعنی‌داچه دعبادت قابل یـوازې یو ذات دی

او نور هرشی چه دعالم دنظام په کثرت کښې لیدل کېږی ؛ هغه ټول مخلوق دی، گویا د علمی او فلسفیانه اعتبار له مخې ددوی کنه اوحقیقت بیخی یودی ؛ لهدې کبله چه صوفیانو دوحدةالوجود فلسفی کیفیت فقط یو مقام لیکلی دی (دابن عربی په عقیده دا یوانتهائی مقام دی او دېنه وړاندې محض عدم دی) لیکن داسوال دهیچا په زړه کښې هم پیدانه شو چه دامقام دکوم یونفس الامرحقیقت هم څرگندولای شی ؟ که کثرت یو نفس وی داکیفیت په یو صاحب حال وحدةالوجودی باندې واردېږی اودا محض دوکه ده اوپه فلسفیانه اعتبار کوم قیمت نه لری اونه دمقام په لحاظ دغه شی روحانی ژوند ته کومه گټه رسولای شی اودا ځکه چه دقرآن دتعلیم له مخې وجود فی الخارج دالهی ذات سره داتحاد نسبت نه لری بلکه دمخلوقیت نسبت لری ؛ که قرآن مجید خلکو ته داتعلیم ورکړی وای چه الله تعالی دعالم دنظام په کثرت کښې دائراوسایردی نوپه دې صورت کښې به وحدةالوجود په زړه باندې واردول ژوندانه کښې ډېر گټوروای بلکه دغه شی به دمذهبی ژوند وروستی پړاو وای ؛مگر زما داعقیده ده چه د قرآن تعلیم دانه دی او ددې کار نتیجه څرگنده ده اوهغه داده چه زماپه عقیده داډول قلبی کیفیت په مذهبی لحاظ هیڅ گټه نه لری ،،او دعلم الحیات له مخې انسان په ډېر ښه شان داحقیقت ثابتولاشی چه زړه باندې ددغه کیفیت واردول دانسانی ژوند دپاره په فردی او ملی لحاظ ډېر مضر کاردی .

اسلامی علما وو دابتدا څخه ددې ډول «تصوف» مخالفت وکړ او دوحدة الوجود د مسئلې په خصوص کښې دامت دعلماوو په اجتماع سره دا فیصله ده چه داقطعاً یو غیر اسلامی تعلیم دی ددې پوره معلوماتو ماخذونه دادی: دداکټر اقبال اسرار خودی اوتصوف ، اخبارو کیل ، امرتسر ، بهارت سنه ۱۹۱٦ بحوالهٔ محمد عبدالله قریشی ؛ معرکهٔ اسرار خودی مطبوعهٔ مجلهٔ اقبال لاهور اکتوبر سینه ۱۹۵۳ دعلامه اقبال غوندې شیخ احمد سرهندی مجددالف ثانی هم اول وحدة الو جودی ؤ او وروسته ئې داعقیده پریښوده چه داحقیقت ده په خپل مکتوبات نومی کتاب کښې په ښکاره ډول څرګند کړی دی ، دالله تعالی په خصوص کښې زما عقیده داده چه الله تعالی نه عین عالم دی اونه دعالم سره کوم ګډ او مخلوط دی او نه دعالم څخه بیخی جلا او بیل دی یعنی نه دعالم سره دی اونه دعالم څخه بیل دی اونه دعالم محیط دی او نه په عالم کښې جاری اوساری دی ؛ زه موجودات ، دموجوداتو صفات اوکارونه یعنی (په دې معامله کښې) زه دټولو مخلوقاتو واقعیت اوحقیقت هیڅ شی نه ګنم لکه چه همداد متکلمینو دعلماو ومذهب هم دی ، دپوره تفصیل دپاره امام ربانی مجدد الف ثانی هغه مکتوب وګورئ چه مولوی محمد حسین ترجمه کړی اوپه لاهور کښې ئې افعال دهغه مخلوق ګنم لیکن نه په دې ډول چه دهغو ذات او دهغو صفات او دهغو افعال دهغه کارونه دی بلکه په ټولو چارو کښې دهغه قدرت مؤثر ګنم .

بسې دتاریخ نه په سنه ۲٤ ـ ۲۵ کښې چاپ کړی دی دې عالم دابن عربی (واړه دی دی) عقیده په ډیر شدت سره ردکړی اوددې تردید په لړ کښې ئې دا ویلې ده چه ددې مسئلې دحقیقی اوصحیح تحلیل دپاره فصوص الحکم ته ضرورت نشته بلکه نصوص القرآن ډیر ضرور دی او ددې مسئلې دحل دپاره له فتوحات میکه مدنیه ډیر ضروری شی دی .

پته

غازی واټ ، شمالی برخه ، نوی ښار
کابل- افغانستان
دپښتو ټولنې درئیس
تېلفون لمبر ۲۰۳۵۰
کابل مجلې دتېلفون لمبر ۲۱۷۱۶

داشتراک بیه

«په افغانی»

په کابل کښې ۴۰
د هېواد په نورو برخو کښې ۴۶
زده کوونکو ته نیمه بیه :
۱- کابل ۲۰
۲- اطراف ۲۳
د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالر
دیوی ګڼې بیه : ۴
د شپږو میاشتو اشتراک هم منل کېږي
د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانک
او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷
داشتراک بیه په اداره کښې هم اخیستل کېږي

دولتی مطبعه

Orientalia

2 DEC 1964
Copy

KABUL

Monthly Journal Of The

Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature. Philosophy

Philology, Sociology, Art and related fields

President of the Academy: POHAND RESHTEEN

Editor: M. Sidiq Rohi

Co-editor M. Moman Patwal

Address Pashto Academy

Kabul. Afghanistan